# د نویو سکاټلنډیانو لپاره د ښه راغلاست کڅوړه

جون 2022

Scottish Government
Riaghaltas na h-Alba
gov.scot

# د نویو سکاټلنډیانو لپاره د ښه راغلاست کڅوړه

**د نویو سکاټلنډیانو لپاره معلومات**

## مطالب


**1. نوي سکاټلنډیان** ........ 3
**2. په سکاټلنډ کې ژوند** ........ 4
*ژبه* ........ 4
حکومت ........ 5
*ټاکنې او رایه ورکول* ........ 6
*پیسې* ........ 6
*د اونۍ د پای او عمومي رخصتۍ* ........ 7
*په سکاټلنډ کې مالیات* ........ 7
**3. استوګنه** ........ 9
*د کور پیرل* ........ 10
**4. زده کړه** ........ 11
*لومړنۍ زده کړې او ماشوم پالنه (ELC)* ........ 11
*د ښوونځي عمر او پړاوونه* ........ 11
*تعلیمي دوره* ........ 12
*زما ماشوم به څه زده کړي؟* ........ 12
*زما د ماشومانو د اړتیاوو په برخه کې اضافي ملاتړ* ........ 13
*خپلواک ښوونځي* ........ 14
*نورې او لوړې زده کړې* ........ 15
**5. روغتیاپالنه** ........ 16
*په بیړني وضعیت کې* ........ 17
*له GP سره راجستر کول* ........ 17
*د غاښونو له ډاکتر سره د ځان راجستر کول* ........ 17
*د NHS د غاښونو پاملرنه* ........ 18
*له تیولنو سره وصلیدل* ........ 18
*رواني روغتیا* ........ 18
*د لویانو تولنیزه پاملرنه* ........ 18
*جنسي ژوند/ د کورنۍ د پلان جوړونې کلینیکونه* ........ 18
*د سکاټلنډ د والدینو کلب* ........ 19
*د سکاټلنډ د ماشوم بکس* ........ 19
**دنده او روزنه** ........ 22
*د هوساینې امتیازات* ........ 22
*د شغل معلومات او لارښوونې* ........ 23
*ستاسو په سیمه بیزه ساحه کې کار کول* ........ 23

*عصري کار زده کړې (MAs)* .......... 23
*د فارغانو کار زده کړې (GAs)* .......... 23
*ستاسو د ملي بیمې شمېره* .......... 24
*د مهارتونو پېژندنه* .......... 24
*د لومړنۍ افشا لپاره نوم لیکنه* .......... 24
**6. د ټولنې خوندیتوب** .......... 26
*د سکاټلنډ قانون* .......... 26
*قانوني حقونه او مسوولیتونه* .......... 26
*پولیس او د هغوی دندې* .......... 29
*د ار لګېدنې په صورت کې* .......... 30
**7. ټولنې او کلتور** .......... 31

## 1. نوي سکاټلنډیان

سکاټلنډ د نړۍ له بېلا بېلو برخو څخه د هغو بې ځایه شویو لپاره د ښه راغلاست اوږود تاریخ لري چې د خوندیتوب په لټه کې دي.

د نوي مهاجرینو سکاټلنډیانو د دغام ستراتېژي د سکاټلنډ له حکومت، COSLA او د سکاټلنډ د کډوالو د شورا په ګډې همکارۍ را منځته شوی و او د ښکېلتیا د پروسې په وسیله خبر ورکړل شوی و چې له 2,000 کسانو څخه ډېر پکې ښکېل وو، چې له دې ډلې 700 تنه یې کډوال او پناه غوښتونکي وو. دا د کډوالو، پناه غوښتونکو او زموږ د ټولنې د ملاتړ لپاره د سکاټلنډ تګلاره تعیینوي.

د نویو سکاټلنډیانو لید **د یوه هرکلي کوونکي سکاټلنډ لپاره دی چې کډوال او پناه غوښتونکي وکولای شي د خپلې را رسېدني له ورځې څخه خپل ژوند بیا جوړ کړي.** د دې لید د ترلاسه کولو لپاره موږ کار کوو تر څو ډاډ ترلاسه کړو چې سکاټلنډ:

- د هر چا لپاره خوندي ځای دی، چېرته چې خلک کولای شي له تعقیب پرته د ټولنې د باارزښته غړیو په توګه ژوند کولای شی.
- هر چا ته دا وړتیا ورکوي تر څو د زده کړې، دندې، کلتور او د رفاهي فعالیتونو له لارې خپلې هیلې تعقیب کړي.
- پیاوړې، جامع او انعطاف منونکي ټولنې لري چېرته چې هر څوک خپل د اړتیا وړ ملاتړ او خدمتونو ته لاسرسی لري او کولای شی چې خپل حقونه تمثیل کړي.
- داسې هېواد دی چې تنوع ته ارزښت ورکوي، چېرته چې خلک کولای شي خپل کلتور، مهارتونه او تجربې وکاروي او شریکې یې کړي، تر څو پیاوړې اړیکې او ارتباطات جوړ کړي.

د نویو سکاټلنډیانو د کډوالو د ادغام ستراتېژي ادغام ته د اوږدمهالې، دوه لارې پروسې په سترګه ګوري چې هم په فردي او هم په کوربه ټولنو کې مثبت بدلون را ښکېلوي او دا د منسجمو او متنوع ټولنو لپاره پیلامه کېږي.

## 2. په سکاټلنډ کې ژوند

سکاټلنډ یو ښکلی هېواد دی چې ډېر تنوع لري. په سکاټلنډ کې ډېری جاذبې د طبیعت پر بنسټ دي. کلاګاني، طبیعي زېرمې، موزیمونه او نور کلتوري جاذبې موجود دي چې تاسو کولای شئ ترې لیدنه وکړئ. د سکاټلنډ نفوس نږدې 5.29 میلیونه دی.

په سکاټلنډ کې 8 ښارونه عبارت دي له ایډېنګبورګ، ګلسګو، ابیرډین، دونډي، انوېرنیس، پېرت، ستېرلېنګ او ډنفیرملین. ایډینګبورګ د سکاټلنډ پایتخت دی.

تاسو کولای شئ د لاندې لینک له لارې په سکاټلنډ کې د استوګنې په اړه نور عمومي معلومات ترلاسه کړئ: [د سکاټلنډ په اړه.]

*ژبه*

د سکاټلنډ رسمي ژبې انګلیسي، ګالیک او سکاټلنډي دي. په سکاټلنډ کې له 5 میلیونه څخه زیات خلک په انګلیسي ژبه خبرې کولای شي. نږدې 87,000 خلک په ګالیک ژبه خبرې کوي او له یو میلیون څخه زیات خلک په سکاټلنډي ژبه غږېږي.

ګالیک ژبه چې قدامت یې پیړیو ته رسېږي، د سکاټلنډ لومړنۍ ژبه ګڼل کېږي او باور دا دی چې له ایرلنډ څخه یې سرچینه اخیستې ده. دغې ژبې په منځنیو پیړیو کې د آلبا د پاچاهۍ د اصلي ژبې په اړه خپله لاره خپره کړه او له پولو څخه تر ابردین شایر، لوړو ځوکو او ټاپو ګانو پورې خپره شوه. په سکاټلنډ کې د ګالیک شپږ خپلواک ښوونځي موجود دي او په ټول هېواد کې له 50 ښوونځیو څخه په زیاتو کې ګالیک ژبه تدریسېږي.

انګلیسي په سکاټلنډ کې تر ټولو عامه ژبه ده چې د ټول نفوس 98.6% کچه چې عمرونه 3 کاله او تر هغې لوړ وي، په انګلیسي ژبه خبرې کولای شي. د سکاټلنډ ځینې اوسیدونکي په سکاټلنډی ژبه هم خبرې کوي، مګر د معمولاً له ځینو محدودو کلیمو او عبارتونو څخه ګټه اخلي لکه ‘bonny’، ‘scunner’، ’wee‘ یا ’’peely-wally. ځینې خلک سکاټلنډي ژبه له نورو هغو څخه زیاته کاروي او نور هغه یې بیا تر ډېره نه کاروي. دغه لینک تعقیب کړئ: [د ګالیک او سکاټلنډ د کلتور په اړه نور معلومات.]

د نورو ژبو د ویونکو لپاره انګلیسي (ESOL) زموږ د کار یوه مهمه برخه جوړوي تر څو له کډوالو او پناه غوښتونکو سره د نویو سکاټلنډیانو د کډوالو د ادغام د ستراتیژۍ له لارې مرسته وکړو. موږ له یو شمېر بنسټونو سره مالي مرسته کوو تر څو هغو خلکو ته ټولګي، پروګرامونه او نور ملاتړونه چمتو کړي چې له انګلیسي پرته په نورو ژبو خبرې کوي او د کالجونو، د تعلیمي ټولنو او پراختیایي خدمتونو له لوري په ځایي ادارو او د درېیم سکټور بنسټونو له لوري وړاندې کېږي. د تعلیم په برخه کې نور معلومات هم شامل شوي دي.

*هوا*

د سکاټلنډ هوا د برېتانیا د نورو برخو په څېر ده او په بېلا بېلو فصلونو کې متفاوته وي. د کال په اوږدو کې متوسطه د حرارت درجې لاندې ذکر شوې دي:

- پسرلی - مارچ، اپرېل او مې (په اوسط ډول 7-13 درجې)
- اوړی - جون، جولای او اګست (په اوسط ډول 15-17 درجې)
- منی - سپټمبر، اکتوبر او نومبر (په اوسط ډول 8-14 درجې)
- ژمی - ډسمبر، جنوري او فبروري (په اوسط ډول 5 درجې)

د سکاټلنډ د هوا په اړه د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
[په سکاټلنډ کې اقلیم او هوا | له سکاټلنډ څخه لیدنه وکړئ]

په ځینو وختونو کې به داسې هوا وي چې ښایي پر عامې روغتیا اغېزه ولري. د Met له اداري څخه به په د دغه ډول هوا لپاره له لاندې لینک څخه خبرتیاوې خپرې شي: [د هوا او اقلیم بدلون - Met دفتر.]

سفر

د سکاټلنډ ټرانسپورټ د سکاټلنډ لپاره يوه دولتي ټرانسپورټي اداره ده چې بسونو، بېړيو، رېل او هوايي ټرانسپورټ ته پوښښ ورکوي. تاسو کولای شئ د هغوی ويب سايټ ته د لاندې لېنک له لارې لاسرسی وموميئ: په سکاټلنډ کې د بس سفر (transport.gov.scot).هغه کسان چې عمرونه يې له 60 کلونو څخه پورته وي، معلوليت لري او په سکاټلنډ کې اوسېږي، نو کېدای شي چې په د مستحق والي د ملي کارت له لارې د درخواست په وسيله په بس کې د وړيا سفر کولو لپاره مستحق وي او بايد د خپلې ځايي شورا له لارې درخواست وکړي. هغه کسان چې عمرونه يې له 5 تر 21 کلونو پورې وي او په سکاټلنډ کې اوسېږي، هم کولای شي چې د ځوانانو د سکاټ کارت له لارې وړيا ټرانسپورټ ته درخواست وکړي چې کېدای شي په انلاين بڼه يا د شورا له لارې يې درخواست وکړي.

سکاټلنډ 5 نړيوال هوايي ډګرونه لري چې عبارت دي له ګلاسګو، ايډنبورګ، ابردين، ګلاسګو پرېسټويک او انوېرنېس.

په سکاټلنډ کې عامه ټرانسپورټ د باور وړ دی. د بس ځايي خدمتونه، چټک بسونه، د رېل ملي خدمتونه، د ګلاسګو فرعي لاره او د ايډنبورګ ټرام کرښې د سکاټلنډ د عامه ټرانسپورټ شبکه جوړوي.

د سکاټلنډ لپاره د رېل اپرېټور سکاټرېل دی. د مهالوېشونو په ګډون نور معلومات دلته ترلاسه کولای شئ: د رېل ټکټونه | وختونه او مهالوېشونه | په سکاټلنډ کې کرايي | سکاټرېل

په سکاټلنډ کې د بسونو يو له لويو اپرېټرانو څخه First دی. نور معلومات دلته موندلای شئ: ختيځ او مرکزي سکاټلنډ | First بس

پر دې سربېره، هغه افراد چې د ټرانسپورټي شبکې په اړه معلومات نلري، مګر په دې اړه معلوماتو ته اړتيا لري چې له يوې ساحې څخه بلې ته په عامه ټرانسپورټ کې څنګه سفر وکړي، نو بايد Traveline Scotland وېب سايټ ته مراجعه وکړي. دغه وېب سايټ له پيل څخه تر مطلوب ځای پورې د سفر پلانونکي وړاندې کوي. په مهربانۍ سره لاندې لېنک ته مراجعه وکړئ -
Traveline Scotland چې په دې کې همدارنګه د سکاټرېل، مېټرو، ډېرى بسونو او ستاسو د استوګنې ځای ته په کټو د ځينو بېړيو په وسيله د تخفيف لرونکو سفرونو لپاره بېلا بېل ټکټونه هم شاملېږي.

ستاسو د انډرايډ او ايپل موبايلونو لپاره بېلا بېل وړيا اپلېکېشنونه موجود دي چې ډاونلوډ يې کړئ چې په سکاټلنډ کې د سفر کولو د پلان جوړولو په اړه معلومات وړاندې کوي، په دې اپونو کې Traveline-App او Traveline Scotland. Smart Travel Apps د هر اپرېټور لپاره جلا کاغذي ټکټ ته د اړتيا پر ځای، د بس، رېل او مېټرو له لارې سفر کولو لپاره د ځېرکې له اړيکې پرته ادايني اسانتيا له لارې د ټکټ پېرلو خدمت وړاندې کوي. په دې کې د موقعيت او سفر په باب د بېلا بېلو غوراويو په اړه ګټور معلومات شامل دي.

حکومت

په انګلستان کې د حکومت درې کچې موجودې دي ـــ د برېتانيا حکومت؛ د سکاټلنډ حکومت او ځايي حکومت.

د برېتانيا حکومت د صدراعظم له لورې اداره کېږي. دا د برېتانيا د حکومت د منتخبو غړيو (MPs) څخه جوړ شوی دی او د ريزرف شويو موضوعاتو په اړه قانون جوړوونکی بنسټ دی، په دې معنا چې ځينې مسايل (لکه د کډوالۍ، پناه غوښتنې او ويزو اړوند) چې پر انګلستان يا نړۍ اغېز لري، يوازې د برېتانيا د حکومت مسووليت پاتېږي.

د سکاټلنډ حکومت د لومړي وزير له لورې اداره کېږي: دا د سکاټلنډ د پارلمان له منتخبو غړيو (MPs) څخه جوړ شوی دی او د سپارل شويو مسايلو لپاره د قانون جوړونې اداره ده. د سکاټلنډ حکومت هېواد د هغو مسايلو له مخې اداره کوي چې د برېتانيا د حکومت له لورې ورته سپارل شوي وي. په دې ور سپارل شويو مسايلو کې روغتيا ټولنيزه پاملرنه، زده کړه، عدالت او پوليسي چارې، کليوالي چارې، اقتصادي وده او ټرانسپورټ شاملېږي.

ځايي حکومت د 32 ځايي چارواکو له لوري له ټاکل شويو شوراګانو سره اداره کېږي چې دغه شوراګانې په هره شورايي ساحه کې د ثبت شويو رايه ورکوونکو له لوري د پنځه کلونو لپاره ټاکل کېږي. تاسو کولای شئ د خپل ځايي چارواکي د اړيکو معلومات په لاندې لېنک کې ترلاسه کړئ: دلته.

*ټاکنې او رايه ورکول*

زموږ د بشري حقونو د قوانينو له مخې، رايه ورکول يو حق دی، نه امتياز. د رايي ورکولو حق د نورو حقونو لپاره چې د بشري حقونو د قانون له لوري ساتل کېږي مهم دی لکه بيان او د تجمع آزادي.

د سکاټلنډ پارلمان په سکاټلنډ کې قانوني استوګنو ته د رايي ورکولو د حق په ورکولو او هغو کسانو ته د نوماندېدو د حق په پراخولو سره چې د استوګنې لپاره نامحدوده اجازه لري، يو روښانه پيغام ورکوي چې سکاټلنډ يو هرکلی کوونکی او جامع هېواد دی او له ټولو سره بايد يو ډول چلند وشي، پرته له دې چې وکټل شي چې شخص د کوم ځای دی.

هغه بهرني اتباع چې په سکاټلنډ کې اوسېږي او په برېتانيا کې د استوګنې اجازه لري، د هغو خلکو په ګډون چې د کډوالي حالت لري او عمرونه يې 14 کاله يا تر دې پورته وي، کولای شي د سکاټلنډ د پارلمان او شورا په ټاکنو کې رايه ورکړي، هغه کسان چې عمرونه يې 16 کاله يا تر دې لوړ وي کولای شي چې د برېتانيا په پارلماني ټاکنو کې رايه ورکړي.

په هرو ټاکنو کې د رايه ورکوونکو د شمېر ډېريدل د ښې استازولۍ، ټولنو ته د ډېر تمويل او د ژوند د ښه کيفيت په معنا دی. زده کړه، روغتياپالنه، کډوالي، زېربنا، اقتصاد او داسې نور ټول له رايي څخه اغېزمنېږي.

تاسو کولای شئ په سکاټلنډ کې د نوم ليکنې د څرنګوالي په اړه معلومات له لاندې لېنک څخه ترلاسه کړئ: څوک د رايي ورکونې لپاره نوم ليکنه کولای شي.

تاسو کولای شئ په لاندې لېنک کې د خپل پوست کوډ په داخلولو سره معلوم کړئ چې ستاسو ځايي MSP (د سکاټلنډ د پارلمان غړی)، MP (د پارلمان غړی، د برېتانيا حکومت) او خپل د شورا غړی څوک دی: هغوی ته وليکئ. دلتهعموماً چې ستاسو MSP څه ډول مرسته درسره کولای شي.

*پيسې*

د سکاټلنډ پيسې لکه د ټولې برېتانيا سټرلېنګ پونډ (£) دی. £1 (يو پونډ) = (100) 100p پيني يا پينسه). نغدې پيسې په ډېرو ځايونو کې منل کېږي مګر ډېری خلک د توکو د پيرلو او خدمتونو ترلاسه کولو د تادياتو لپاره ډېبټ کارتونه/ کرېډټ کارتونه کاروي.

*د بانکي حساب پرانيستل*

که چېرته تاسو د کډوالی وضعيت، بشري خونديتوب، اختياري رخصتي (DLR) يا د استوګنې لپاره نامحدوده رخصتي (ILR) لرئ، نو حق لرئ چې په سکاټلنډ يا د برېتانيا په بله هره برخه کې بانکي حساب پرانيزئ.

د بانک يو اساسي حساب ابتدايي بانکي خدمتونه وړاندې کوي. تاسو کولای شئ خپل حساب ته د پيسو ډېرولو، نورو خلکو ته د پيسو تاديه کولو او د پيسو د را بهر کولو لپاره يې وکاروئ.

هر بانک خپل ځانګړي د منلو وړ د هويت د څرګندولو د سندونو لېست لري او ځيني بانکونه ښايي د نورو هغو په پرتله ډېر معلومات وغواړئ. تاسو به اړتيا ولرئ چې د هغه بانک څانګې ته مراجعه وکړئ چې ټاکلی مو دی او هغه سندونه درسره يوسئ چې ستاسو هويت او د استوګنې ځای څرګندوي، تاسو بايد تل له وړاندې له بانک څخه پوښتنه وکړئ چې هغوی کوم سندونه مني.

د سکاټلنډ د کډوالو شورا يو لړ ګټور معلومات چمتو کړي دي چې څه ډول کولای شئ يو بانکي حساب پرانيزئ او تاسو کولای شئ دغه معلومات په لاندې لېنک کې وګورئ: دلته

د دې لپاره چې بانکي حساب پرانيزئ، نو تاسو بايد بانک ته هغه سندونه ورکړئ چې لاندې موارد تصديقوي:

د هویت سند:

- پاسپوټ،
- د موټر چلوني جواز
- د ملي هویت کارتونه

د کډوالۍ حالت:

- د کورنیو چارو وزارت لیک چې ستاسو حالت تصدیقوي

په برېټانیا کې د پتې سند:

- معمولاً د خدمتونو وروستی بل،
- د کور د کرایې قرارداد،
- د شورا د مالیې بل.

د موبایل ټیلیفون بلونه په عامه توګه نه منل کېږي.

په یاد ولرئ چې ډېری بانکونه به یوازې د سندونو یا تصدیق پاڼو اصلي کاپي ګاني ومني.

*د اونۍ د پای او عمومي رخصتۍ*

په سکاټلنډ او ټوله برېټانیا کې د اونۍ د پای رخصتۍ د شنبې او یکشنبې پر ورځو وي، په دې ورځو کې ډېری سوداګریزې اداري تړلې وي. بانکونه او پستي اداري معمولاً له دوشنبې څخه تر جمعې پورې او شنبې په سهار خلاصې وي، مګر د شنبې پر ورځ له غرمې وروسته او د یکشنبې پر ورځ تړلې وي. ډېری دوکانونه او رستورانتونه د شنبې پر ورځو او په ډېری یکشنبې ورځو کې خلاص وي. که څه هم کېدای شي د سکاټلنډ په ټولو برخو کې داسې نه وي.

په ټول کال کې یو شمېر عمومي روخصتۍ شته. ډېری کاروبارونه بند وي، مګر دوکانونه، رستورانتونه او د تفریح اسانتیاوې معمولاً خلاصې وي. تاسو کولای شئ د خپلې شورا په ساحه کې د 2022 کال لپاره د عمومي رخصتیو یو لېستدلتهومومئ.

*په سکاټلنډ کې مالیات*

په سکاټلنډ کې مالیات د عاید، د ملکیت په معاملو او د مشخصو توکو او خدمتونو په بدل کې د افرادو او سوداګریو پر بنسټ تادیه کېږي له عوایدو څخه راټول شوي مالیات په سکاټلنډ کې د عامه خدمتونو د تمویل لپاره کارول کېږي لکه روغتیا، ټولنیزه پاملرنه، زده کړه او ترانسپورټ.

په سکاټلنډ کې درې ډوله بېلا بېل مالیات شتون لري:

- ځایي مالیات، لکه د شورا مالیات ستاسو د ځایي اداري له لوري مدیریت او را ټولېږي. د شورا مالیه پر کورني ملکیت وضع شوي مالیات دي چې ستاسو د ځایي شوراګانو له لوري را ټولېږي او معمولاً د هغه لوړ عمر لرونکي شخص له لوري ادا کېږي چې د ملکیت مالکیت ورسره وي. د کرایي ملکیت لپاره به تادیه د هغه قرارداد له مخې تعیین شي چې په دې اړه ترسره شوی دی. پیسې د ځایي خدمتونو د لګښت د تادیې لپاره کارول کېږي لکه د خځلو را ټولول او د سړکونو او کوڅو د څراغونو روښانه کول. د ځایي مالیاتو په اړه نور معلومات دلتهپیدا کولای شئ.
- سپارل شوي مالیات هغه مالیات دي چې د سکاټلنډ د حکومت له لوري کنټرولېږي، لکه د عاید مالیه او د ځمکې او ودانیو د معاملاتو مالیه. دا یا د Revenue Scotland یا Her Majesty's Revenue او ګمرکونو (HMRC) له لوري را جمع کېږي. د عاید مالیه مالیه هغه مالیه ده چې که چېرته تاسو په سکاټلنډ کې اوسېږئ، نو ستاسو له عاید څخه وضع کېږي. د د ځمکې او ودانیو د انتقال مالیه هغه مالیه ده چې د ځمکې یا ملکیت په پیرلو باندې وضع کېږي، دا په استوګنیزو، غیر استوګنیزو او په سکاټلنډ کې پر غیر استوګنیزو کرایو باندې وضع کېږي.

- ریزرف شوي مالیات د برېتانیا د حکومت له لوري کنټرولېږي او د HMRC له لوري را ټولېږي. د ریزرف شویو مالیاتو بېلګې چې تاسو یې باید تادیه کړئ، په دې لېنک کې د لاسرسي وړ دي - ملي بیمه, VAT اوریزرف شوي مالیات

تاسو کولای شئ د مالیاتو په اړه نور معلومات او لارښووني د د سکاټلنډ د اتباعو لارښووني یا TaxAid په څېر ادارو سره د اړیکې له لارې ترلاسه کړئ.

## 3. استوګنه

د سکاټلنډ حکومت له ټولو اتباعو څخه غواړي چې په باکیفیته او د دوام وړ کورونو کې و اوسیږي چې د هغوی ظرفیت لري او اړتیاوې یې پوره کوي. په سکاټلنډ کې د تصدیو ډېر ډولونه موجود دي: د مالک تر تصرف لاندې ملکیتونه؛ د کرایې خصوصي سکټور؛ شورایي استوګنه؛ او د استوګنې د ټولنې ملکیتونه.

*د پناه غوښتونکو استوګنځی*

که چېرته پناه غوښتونکي د فقیر په توګه ارزول شوي وي او د هغوی د قضیې د ارزول کېدو پر مهال د استوګنې لپاره بل ځای ونلري، نو د کورنیو چارو وزارت دنده ده چې هغوی ته استوګنځی چمتو کړي.

که چېرته د پناه غوښتنې په استوګنځی کې کومه ستونزه را پورته کېږي، نو د کډوالو مرستندویې اداري، د کورنیو چارو وزارت د کډوالو د لاربښوونې او ملاتړ چمتو کوونکي ته یې په اړه راپور ورکړئ. [د پناه غوښتنې خدمتونه | د کډوالي مرسته (Migrant Help) (migranthelpuk.org)](migranthelpuk.org)

پناه غوښتونکي کولای شي ټولنیزې استوګنې ته درخواست وکړي او د هغه درخواست ته د رسیدګۍ لپاره به د انتظار په یوه لېست کې ځای پر ځای شي، مګر تر هغې به هغوی ته سرپناه نه ورکول کېږي چې تر څو د کډوالۍ حالت نه وي ورکړل شوی. ځینې وخت له پناه غوښتونکو سره د کورنیو چارو وزارت د سرپناه مرسته کوي تر هغې چې هغوی ته د کډوالۍ وضعیت ورکړل شي.

کله چې یو شخص ته د کډوالۍ وضعیت ورکړل شو، نو بیا هغه کولای شي د هغو خلکو په څېر یو شان د استوګنې حقونو ته لاسرسی ولري چې په سکاټلنډ کې دایمي استوګنه لري.

*ټولنیزه استوګنه*

ټولنیزه استوګنه هغه استوګنه ده چې ملکیت یې له ځایي ادارو (شورا ګانو) او د استوګنې له ټولنو (راجستر شوي ټولنیز د کورونو مالکان) سره دی او د هغوی له لوري اداره کېږي.

ټولنیز د کورونو مالکان 2010 کال د مساوات د قانون او د 2001 کال د استوګنې (سکاټلنډ) د قانون له مخې دا دنده لري چې مساوي فرصتونه وړاندې کړي او ډاډ ترلاسه کړي یچې ټول خلک خپلو استوګنځیو او استوګنیزو خدمتونو ته په عادلانه ډول لاسرسی لري.

که چېرته تاسو لېواله یاست چې د ټولنیزې استوګنې په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ، نو لاندې ګټور لینکونه وګورئ:

[د کور مالک وموميځ | د سکاټلنډ د استوګنې تنظیموونکی]()

[ټولنیزه استوګنه: د استوګنې اداره - gov.scot (www.gov.scot)]()

[د بې کورۍ مرستې ته لاسرسی - د سکاټلنډ د کډوالو شورا]()

*د خصوصي کرایې سکټور*

که چېرته تاسو غواړئ یو کور په خصوصي توګه په کرایه ونیسئ، د دې لپاره ځینې پړاوونه دي چې باید تعقیب یې کړئ. د بېلګې په توګه، مخکې له دې چې کور ته کډه شئ، نو تاسو د قانون له مخې مکلف یاست چې د کرایې یو قرارداد لاسلیک کړئ چې د کرایې شرایط تعیینوي. تاسو به مخکې له دې چې کور ته ور کډه شئ، د لومړۍ میاشتې کرایه او تضمین ورکړئ، چې باید د کور د مالک له لوري د کرایې د تضمین په طرحه کې ځای پر ځای شوی وی. دا په دې معنا ده چې کله تاسو له کور څخه وځئ او کور په ښه حالت کې وي او کرایه او بلونه مو تادیه کړي وي، نو ستاسو تضمین به بېرته درکړل شي. که چېرته د تضمین د بېرته ورکولو په اړه کوم اختلاف موجود وي، نو په سکاټلنډ کې د تضمین د ورکړې په درې واړه طرحو کې د اختلاف د حل کولو وړیا پروسه د لاسرسي وړ ده.

په سکاټلنډ کې ټول د کور مالکان او د هغوی استازي باید راجستر شوي وي. دا ډاډمنوي چې د کور مالک  او یا د هغوی استازي د باور وړ دي او د 'Fit & Proper Person' ازمېښت یې ترسره کړی دی چې په سکاټلنډ کې د ځایي اداري له لوري اخیستل کېږي. مخکې له دې چې تاسو کوم ملکیت په کرایه ونیسئ، تل معلومه کړئ چې ایا د کور مالک راجستر شوی دی او که نه.

د دې لپاره چې معلومه کړئ چې ایا د کور مالک راجستر شوی دی او که نه، لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://www.landlordregistrationscotland.gov.uk/search

د دې لپاره چې معلومه کړئ چې د کور د مالک استازی راجستر شوی دی او که نه، لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://register.lettingagentregistration.gov.scot/search

ډېرې بنسټونه د بازار په نیمایي بیه استوګنځي چمتو کوي. د دې کورونو له چمتو کولو څخه موخه له کم عایده څخه تر منځنۍ کچې عاید لرونکو خلکو سره مرسته کول دي تر څو په لږ لګښت او وریا ته نږدې استوګنځي چمتو کړي.  تاسو کولای شئ د دې کورونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د خپلې فردي ځایي اداري ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.

په سکاټلنډ کې د خصوصي مستاجرینو لپاره جامع معلومات په لاندې لینک کې ترلاسه کولای شئ: 'د خصوصي استوګنځیو قراردادونه: د مستاجرینو لارښود'.

د خصوصي کور له مالک څخه د کور د کرایه کولو په اړه نورو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ:
https://www.mygov.scot/rent-private-landlord

*د کور پیرل*

په سکاټلنډ کې ډېری ملکیتونه د استازو (وکیلانو) او د املاک د ادارو له لوري پلورل کېږي. که څه هم تاسو کولای شئ په خصوصي بڼه یې د ملکیت له مالک څخه وپیرئ، په دې صورت کې به غوره وي چې له داسې وکیل سره په دې اړه بحث وکړئ چې حقوقي موضوعات پر مخ وړي.

که چېرته تاسو غواړئ په سکاټلنډ کې یو کور یا اپارتمان وپیرئ، نو د دې لپاره یوه حقوقي پروسه ده چې د پلور پر مهال هم د پلورونکي او  هم د پیرونکي خوندیتوب ډاډمنوي. د حقوقي پروسې په اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ: د کور پیرل: حقوقي پروسه - mygov.scot

د سکاټلنډ اتباعو ته لارښوونه د لاندې لینک له لارې ګټور معلومات وړاندې کوي چې د ملکیت تر پیرنې وړاندې پرې غور وشي: د کور پیرل - د سکاټلنډ اتباعو ته لارښوونه .

*د کور په پیرلو کې مرسته*

که چېرته تاسو غواړئ چې کور وپیرئ، خو ټوله بیه یې نشئ پرې کولای، نو کېدای شي چې د سکاټلنډ هېواد مرسته درسره وکړای شي.

د سکاټلینډ حکومت د لومړي ځل پیرودونکو لپاره د ټیټ لګښت نوښت (LIFT) شریک د مساوات طرحې پرمخ وړي، کوم چې تاسو سره د کور پیرودلو کې مرسته کولی شي چې په خلاص بازار کې د پلور لپاره وي، یا د هستوګنې له اتحادیې یا سیمه ییزو شورا څخه نوی جوړ شوی کور وپیرئ. تاسو کولای شئ د هغوی په اړه نور معلومات په لاندې لینک کې ترلاسه کړئ: د کور په پیرلو کې د مرستې ترلاسه کول.

که چېرته تاسو غواړئ په کور کې د ورځنیو فعالیتونو په مدیریت کې مرسته ترلاسه کړئ، یا د پیسو په مدیریت یا د بلونو په اداینه کې مرسته ترلاسه کړئ، نو باید له خپلې ځایي شورا سره اړیکه ټینګه کړئ. نور معلومات د Shelter Scotland پر ویب سایټ ترلاسه کولای شئ، دغه ویب سایټ د لاسرسي وړ مرستو د کچو په اړه ډېر معلومات لري چې په هغوی کې تاسو د خپلې ځایي شورا د اړیکو معلومات هم ترلاسه کولای شئ.

## 4. زده کړه

زده کړه د سکاټلنډ حکومت ته محول شوې ده، او سکاټلنډ ځان ته ځانګړی نصاب لري چې داسې ترتیب شوی دی تر څو زده کوونکو ته، پوهه، مهارتونه او ځانګړني ور زده کړي چې هغوی د خپل ژوند او کار لپاره ورته اړتیا لري. دا د هر ماشوم حق دی او د ماشومانو لپاره یوه قانوني اړتیا ده تر څو د ښوونځي زده کړې ورکړل شي. د قانون له مخې باید ټول هغه زده کوونکي ښوونځي ته لاړ شي چې عمرونه یې له 16 کلونو څخه کم وي.

یوه ښوونیزه اداره مکلفه ده چې له 5 څخه تر 16 کلونو عمر لرونکو ماشومانو لپاره د بشپړ وخت لپاره زده کړې وړاندې کړي. د هغه ماشوم لپاره د بشپړ وخت لپاره د زده؟ کړو چمتو کول هم د ښوونې او روزنې د سیمه ییزې ادارې په غاړه دي چې؟ دلته په لنډمهاله توګه ژوند کوي، مګر دا چې والدینو په کور کې زد؟ه کړې ترسره کول غوره کړي وي.

*لومړنۍ زده کړې او ماشوم پالنه (ELC)*

ټول 3 او 4 کلن ماشومان د 1140 ساعته وړیا لومړنۍ زده کړې او ماشوم پالنې (ELC) لپاره په هر کال کې مستحق دي، دا زده کړې او ماشوم پالنه د سکاټلنډ د حکومت او ځایي ادارو له لوري تمویلیږي. که چېرته تاسو د ښوونځي په دوره کې کاروئ، نو په اونۍ کې شا و خوا 30 ساعته کار کوي او که چېرته د کال په اوږدو کې یې کاروئ، نو په اونۍ کې 22 ساته کار کوي. یو خوراک مغزي خواړه چې لګښت یې ELC ورکوي، پکې شامل دي.

د 2 کلنو ماشومانو له څلورو برخو څخه یوه برخه ماشومان هم د 1140 ساعته وړیا ELC لپاره مستحق دي. که چېرت یو 2 کلن ماشوم د ځایي شورا تر پالنې لاندې وي، یا د خپلوۍ د پالنې تر حکم یا د سرپرستۍ د پالنې تر حکم لاندې وي، یا د هغوی والدین یا سرپرست مشخصې ګټې ترلاسه کوي، نو هغه د ELC د تمویل د ترلاسه کولو مستحق دی. د نورو معلوماتو لپاره په مهربانۍ سره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ: [تاسو کولای شئ د مرستو لپاره د 2 کلن ماشوم د مستحق والي په اړه نور معلومات د gov.scot له ویب سایټ څخه ترلاسه کړئ]

ځایي اداري باید د لومړنۍ زده کړې یوه لازمي اندازه او د هغوی په ساحه کې د لاسرسي وړ ماشوم پالنه وړاندې کړي چې له ښوونځي څخه مخکې ماشوم یې پر شرایطو برابر وي. دغه حقونه د ټولو ماشومانو او ځوانانو لپاره دي، د بې ځایه شویو، کډوالو او پناه غوښتونکو په ګډون.

تاسو کولای شئ تمویل شویو ELC ته په وړکتونونو، د ماشوم په پالنځایونو، یا د لوبو په ګروپونو ــ یا د دوی ټولو په ګډوله کې لاسرسی ولرئ. دا یوازې په دې پورې اړه لري چې تاسو ته نږدې څه دي. تاسو اړ نه یاست چې ټول 1140 ساعتونه وکاروئ.

ځایي اداري مسوولې دي چې په خپلو ساحو کې پر شرایطو برابرو ماشومانو ته تمویل شوې ELC وړاندې کړي. هره ځایي اداره خپله ځانګړې د درخواست پروسه لري.

که چېرته تاسو لېواله یاست چې ماشوم مو تمویل شوې ELC ترلاسه کړي، له خپلې ځایي ادارې سره اړیکه ټینګه کړئ تر څو پوه شئ چې کله او څه ډول درخواست وکړئ، یا ستاسو په ساحه کې د چمتو کوونکو د اندازې په اړه معلومات ترلاسه کړئ. ستاسو ځایي اداره همدارنګه کولای شي چې د 2 کلونو ماشومانو لپاره د تمویل شویو ELC په اړه هم معلومات درکړي.

د سکاټلنډ په حکومت کې د ELC لپاره د ځایي ادارې د اړیکو جزئیات په لاندې لینک کې د لاسرسي وړ دي: [د تمویل شوي ELC ویب سایټونه]

په سکاټلنډ کې د ELC په اړه نور معلومات دلته د لاسرسي وړ دي: [د والدینو د کلب ویب سایټ]

*د ښوونځی عمر او پړاوونه*

ټول والدين قانوني مسوولیت لري چې خپل ماشومانو ته تعلیم ورکړي، هغوی کولای شي خپل ماشوم د تعلیم ترلاسه کولو لپاره ښوونځیو ته واستوي یا په کور کې یې روزنه ورکړي ـ د لاسرسي وړ غوراویو په اړه نور معلومات له لاندې لینک څخه ترلاسه کولای شئ د سکاټلنډ د حکومت ویب سایټ.

سکاټلنډ له 5 کلنۍ څخه تر 18 کلنو ماشومانو پورې ټولو ته په وړیا ډول د ښوونځي تعلیم چمتو کوي. په سکاټلنډ کې د برېتانیا له نورو برخو څخه د نوملیکنې او په ښوونځي کې د شمولیت نېټې توپیر کوي. ماشومان معمولاً د 4 ½ او 5 ½ کلنۍ تر منځ ښوونځی پیلوي، په دې پوې تړاو لري چې د هغوی د زېږون نېټه کله راځي، هغوی کولای شي په خپلې تعلیمي حوزه کې په یوه ښوونځي کې نوم لیکنه وکړي یا په کوم بل ښوونځي کې. دا چې د ښوونځي د یوه ځای لپاره څه ډول نوم لیکنه وکړو، په دې اړه یو بشپړ لارښود دلته د لاسرسي وړ دی: د سکاټلنډ د حکومت ویب سایټ.

زده کوونکي یې په لومړنۍ 1 کې پیلوي او هر کال د لومړنۍ 7 له لارې راتلونکي ټولګي ته ځي. ټول زده کوونکي په 1-5 لومړنیو کې د ښوونځي وړیا خواړه ترلاسه کوي.

زده کوونکي په اتومات ډول له لومړني ښوونځي څخه ثانوي ښوونځي ته ځي (چې عمرونه یې 11 او 12 کاله وي، د هغوی په عمر پورې تړاو لري چې کله یې ښوونځی پیل کړی دی).

ستاسو ځایي شورا مسوولیت لري چې ستاسو د استوګنې په سیمه کې د ښوونځي تعلیم چمتو کړي. تاسو کولای شئ د ټولو ښوونځیو په ځایونو کې د نوم لیکنو او د ځای موندلو د غوښتنو په اړه بشپړ معلومات په دې لینک کې ترلاسه کړئ: 'د یوه ښوونځي ټاکل - د والدینو لپاره لارښود'.

*تعلیمي دوره*

د دورې نېټې به ستاسو د ځایي اداري د ساحې پورې متفاوتې وي. تاسو کولای شئ د دورې نېټې په لاندې لینک کې ومومئ: د ښوونځي دوره او د رخصتیو نېټې.

*زما ماشوم به څه زده کړي؟*

ټول له 3 تر 18 کلنۍ پورې زده کوونکي د هغه نصاب له لارې زده کړه کوي چې د تعالی لپاره جوړ شوی دی، په دې لینک کې یې وګورئ: د سکاټلنډ نصاب. نصاب زده کوونکي د تعلیم په زړه کې ځای پر ځای کوي ترڅو هغوی خپل پوتانسیل د بریالیو زده کوونکو کېدو، پر خپل نفس د باوري انسانانو، مسوولو اتباعو او اغېزناکو مشارکت کوونکو کېدو له لارې ترلاسه کړي.

تعلیم د لومړنۍ زده کړې او ماشوم پالنې د چاپېریالونو، لومړنیو ښوونځیو (معمولاً عمرونه یې له 5 تر 11 کلونو پورې) او ثانوي ښوونځیو (معمولاً عمرونه له 12 څخه تر 18 کلونو پورې) له لورې وړاندې کېږي. د سکاټلنډ په نصاب کې دوه پراخ پړاوونه شامل دي.

- لومړی پړاو یې 3-15 دی او پراخې عمومي زده کړې یې بولي. دغه پړاو لومړنیو کلونو ته پوښښ ورکوي (نرسري، لومړنۍ زده کړې او ماشوم پالنه)، ثانوي ښوونځی (لومړنۍ له 1 تر 7 پورې) او د ثانوي ښوونځي درې لومړني ټولګي (S1-S3).
- دویم پړاو ته سینیر پړاو ویل کېږي او د ثانوي ښوونځي درې وروستیو ټولګیو ته پوښښ ورکوي ((S4-S6، دا هغه پړاو دی چې زده کوونکي پکې د یو زیات شمېر جایزو او وړتیاوو لپاره تعلیم کوي. ډېری ځوانان به په ښوونځیو کې زده کړې ته دوام ورکړي، مګر دا د زده کوونکو په انګېزو پورې اړه لري، په کالج یا د لوړو زده کړو په کوم بل چمتو کوونکي پورې اړه لري چې ښایي هغوی د کورسونو د مطالعې لپاره مرستندویه فرصتونه ولري.

نصاب داسې چمتوی شوی دی چې تر څو زده کوونکو ته یو لړ تګلارې وړاندې کړي تر څو هغوی خپل مهارتونه او پوهه پراخه او څرګنده کړي، هغوی د نورو زده کړو، لوړو زده کړو او دندې ته چمتو کوي.

په سکاټلنډ کې د نصاب په اړه نور معلومات د سکاټلنډ د تعلیم په لاندې لینکونو کې د لاسرسي وړ دي: د والدینو د زون ویب سایټ.

د والدينو لپاره دوستانه نصاب ته د تعالي لپاره لاربښوونې د سکاټلنډ د والدینو ملي ټولنه له لوري پر مخ وړل شوی دی. دې ته چې Nutshells وايي، CfE په Nutshell کې او https://www.npfs.org.uk/downloads/cfe-in-a-nutshell/سينير پړاو په Nutshell کې شامل دي.

ښوونځي له کالجونو او کارفرمايانو سره په همکارۍ انعطاف پذيري لري چې تر څو داسې تجربې وړاندې کړي چې د ټولو زده کوونکو اړتیاوې ورسره پوره شي. همدارنګه ځوانان کولای شي یو لړ ملي او مسلکي وړتیاوې او انعامات مطالعه کړي چې په هغوی کې ملي، لوړې، پرمختللي لوړې، بنسټيزې د کار زده کړې دورې او د کاري مهارتونو کورسونه شاملیږي. د سکاټلنډ د مهارتونو په اړه نور معلومات په د سکاټلنډ د مهارتونو اداري وېب سايټ کې ترلاسه کولای شئ. په ټوله برېتانيا او ايرلنډ کې د مهارتونو په اړه مقايسوي معلومات په مهارتونه پولي ماتولای شیاو کې کتلای شئ. apprenticeships.scot.

لومړنی ګام دا دی چې له خپلې ځايي اداري سره اړيکه ټينګه کړئ تر څو ستاسو په ساحه کې د لاسرسي وړ زده کړو د چمتو کېدو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

د برېجس پروګرام هم کولای شي د زده کړې او مهارتونو لپاره مرسته چمتو کړي. د برېجس (Bridges) پروګرامونه له کډوالو، پناه غوښتونکو او مهاجرینو او بل هر هغه چا سره په ټولنيز، تعليمي او اقتصادي ادغام کې مرسته کوي چې انګليسي يې دويمه ژبه وي. تاسو کولای شئ د نورو معلوماتو لپاره په لاندې لینک کې د هغوی وېب سايټ وګورئ:https://www.bridgesprogrammes.org.uk

*زما د ماشومانو د اړتياوو په برخه کې اضافي ملاتړ*

ټول ماشومان او ځوانان ملاتړ ته اړتيا لري تر څو له هغوی سره د ښوونځي او ELC په چاپېريالونو کې د زده کړې او لاسته راوړنې په برخه کې مرسته وکړي. ځینې وختونه ښايي ماشومان او ځوانان اضافي مرستې ته اړتيا ولري تر څو خپلې ډېرې زده کړې ترلاسه کړي، ويل کېږي کله چې يو ماشوم يا ځوان شخص په هر دليل تر هغې اضافي مرستې ته اړتيا ولري چې معمولاً د هغه په عمر نورو ماشومانو ته وړاندې کېږي، نو ياد ماشوم ته بايد اضافي مرسته چمتو شي.

ډېر داسې دلايل موجود دي چې له مخې يې ماشوم يا ځوان شخص ښايي د ښوونځي او ELC په چاپېريال کې اضافي ملاتړ ته اړتيا لري تر څو خپل بشپړ پوټنسیال ترلاسه کړي. ملاتړ د دې لپاره چمتو کېږي تر څو ځوانانو او ماشومان له لاندې مواردو څخه لا پورته کېدونکو خنډونو باندې برلاسي شي:

- د زده کړې چاپېريال
- د کورنۍ شرايط
- معلوليت يا روغتيا
- ټولنيز يا عاطفي فکتورونه

دا يواځې پر هغو ماشومانو او ځوانانو نه پلي کېږي چې اوږمهاله ستونزې لري يا طبي تشخيصونه لري. ځينې ماشومان ښايي د ښوونځي په ټوله دوره کې مرستې ته اړتيا ولري، په داسې حال کې چې نور ښايي د لنډې مودې لپاره مرستې ته اړتيا ولري.

که چېرته تاسو فکر کوئ چې ماشوم مو په زده کړه کې اضافي مرستې ته اړتيا لري، نو تاسو بايد د هغوی له ښوونځي يا بلې تعليمي اداري سره خبرې وکړئ. په مهربانۍ سره د بشپړ وېب سايټ لینک وګورئ:
تاسو کولای شئ د زده کړې لپاره د اضافي ملاتړ لپاره له Enquire، ملي سلا مشورې او معلوماتو له خدمت څخه لارښوونو ته لاسرسی ولرئ. Enquire يو لړ سرچينې لري چې په انلاين بڼه دلته د لاسرسي وړ دي: Enquire - د زده کړې لپاره د سکاټلنډ د لارښوونې د خدمت اضافي ملاتړ

Enquire همدارنګه یوه وړيا محرمه ټليفوني کرښه لري چې د مشخصو شرايطو په اړه معلوماتو او سلا مشورې وړاندې کوي. له Enquire سره د اړيکې ټينګولو لپاره د ټليفوني کرښې او نورو ارتباطي لارو په اړه معلومات دلته د لاسرسي وړ دي: د Enquire ټليفوني کرښه - Enquire.

هغه ماشومان چې عمرونه يې 12-15 کاله دي د زده کړو او د مرستې ترلاسه کولو لپاره معلوماتو او لارښوونې په اړه معلومات په My Rights, My Say کې معلومات ترلاسه کړي.  نور معلومات دلته د لاسرسي وړ دي:  Reach - په سکاټلنډ کې د ملاتړ او زده کړو لپاره د ماشومانو حقونه.

*ایا زه ښوونځي ته د خپلو ماشومانو د استولو په لګښت کې مرسته ترلاسه کولای شم؟*

*د ښوونځي وړیا خواړه*

په لومړني ښوونځي کې ټول له 1 څخه تر 5 ټولګي پورې زده کوونکي به د ښوونځي په دوره کې د غرمې وړيا خواړه ترلاسه کړي، که چېرته هغوی د ځایي شورا ښوونځي ته ځي.  ستاسو مالي شرایط مهم نه دی.

له 5 ابتدايي ښوونځي څخه وروسته به هم ستاسو ماشوم د ښوونځي د وړيا خواړو لپاره پر شرایطو برابر وي، که چېرته تاسو د کوم ډول امتیازاتو د ترلاسه کولو لپاره پر شرایطو برابر یاست.  د ښوونځي د خوړو لپاره د امتيازاتو پر شرایطو برابروالي په اړه بشپړ معلومات په لاندې لېنک کې د لاسرسي وړ دي: د ښوونځي خواړه - mygov.scot.  تاسو بايد د خپلې ځايي شورا وېب سایټ هم وګورئ، ځکه چې ښايي ستاسو په سيمه کې د ځايي شورا پر شرايطو د برابروالي معيارونه متفاوت وي.

*د ښوونځي د رخصتيو پر مهال مرسته*

همدارنګه که چېرته تاسو د ښوونځي د خواړو لپاره د امتیازاتو د ترلاسه کولو مستحق یاست (لکه نړیوال کرېډټ)، نو تاسو ښايي د ښوونځي د رخصتيو پر مهال له خپلې ځايي شورا څخه مرسته ترلاسه کړئ.  پر شرايطو برابرو کورنيو ته به مرسته يا په مستقيمه توګه په نغدي ډول ستاسو بانکي حساب؛ سوپرمارکېټ یا د دوکان ووچرونو ته واستول شي؛ يا کېدای شي ستاسو ځايي شورا د خوړو بستې ستاسو کور ته در واستوي.  ستاسو ځايي شورا به دې اړه نور معلومات درکولای شي چې دغه مرسته ستاسو په ساحه کې څه ډول ترسره کېږي.

د ښوونځي د رخصتيو دوره چې تر پوښښ لاندې نيول کېږي، هغه د اوړي، د کرسمس او ايسټر رخصتياني دي او د دوړې په نيمايي کې د اکتوبر او فبروري په مياشتو کې دي. په مهرباني سره له خپلې سيمه ييزې شورا سره وګوئ چې آيا تاسو د دې مرستې د ترلاسه کولو لپاره پر شرایطو برابر یاست او که نه.

*د ښوونځي د جامو مرسته*

سيمه ييزې شورا ګاني به له مستحقو کورنيو سره په کال کې يو ځل د ښوونځي د جامو مرسته وکړي.  که چېرته تاسو د ښوونځي د جامو د مرستې ترلاسه کولو لپاره مستحق یاست، نو ستاسو هر ماشوم ته به په لومړني ښوونځي کې 120£ او په منځني ښوونځي کې به 150£ ورکړل شي.  د ښوونځي د جامو لپاره د مستحق والي شرايط د سيمه ييزو شورا ګانو له لوري تنظيمېږي. تاسو کولای شئ د خپلې سيمه ييزې شورا د مستحق والي شرايط په لاندې لېنک کې وګورئ: د ښوونځي د جامو د لګښت په برخه کې مرسته - mygov.scot

که چېرته تاسو ډاډه نه ياست چې د ښوونځي د جامو مرسته به ترلاسه کړئ، نو په مهربانۍ سره په مستقيم ډول له خپلې سيمه ييزې شورا سره اړيکه ټينګه کړئ.

*خپلواک ښوونځي*

د سيمه ييزې اداري په لومړنۍ زده کړې سربېره، والدين کولای شي په يوه خپلواک ښوونځي کې د خپلو ماشومانو په شاملولو غور وکړي چې خصوصي ښوونځی هم ورته وايي.  خصوصي ښوونځي له زده کوونکو څخه فيس اخلي تر څو خپلې اړتياوې پرې پوره کړي، مګر کېدای شي چې مالي مرسته، بورسيي او سکالرشيپونه يکې د لاسرسي وړ وي. په

سکاټلنډ کې ټول راجستر شوي ښوونځي، له جزئیاتو سره په لاندې لینک کې د لاسرسي وړ دي. په سکاټلنډ کې خیلواک ښوونځي: نوم لیکنه.

په خصوصي سکټور کې شپني او ورځني ښوونځي شامل دي، چې په هغوی کې ماشومان او ځوانان پاتې کېږي، ځيني يې بشپړ وخت وي او ځيني يې د اونۍ په يوې برخې کې پاتې کېږي. چېرته چې ښوونځي د شپې او ورځې زده کړې عرضه کوي، دا راجستر شوي دي او د پالني د ارزوونکي له لوري ارزول کېږي. د هغوی په اړه نور معلومات دلته ترلاسه کولای شئ: د پالني پلټونکي.

*نورې او لوړې زده کړې*

په سکاټلنډ کې يو زيات شمېر د لوړو زده کړو اداري موجودې دي. په دې کې د نورو زده کړو کالجونه او پوهنتونونه شامل دي چې د زده کړې په بېلا بېلو مېتودونو کې انعطاف پذيري وړاندې کوي، د بشپړ وخت، د ورځې مهال، د ماښام مهال، د بلاک خپراوی او د خلاصو زده کړو پر بنسټ. په دې ضميمه کې د لاسرسي وړ کورسونو د بېلا بېلو ډولونو په اړه ګټور معلومات موجود دي. په بېلا بېلو کچو کې کورسونه د لاسرسي وړ دي چې لاندې موارد پکې شامل دي:

- د ملي سرټيفيکېټ ماډلونه يا د ماډلونو کلسترونه
- د سکاټلنډ عمومي مسلکي وړتياوې
- په ملي وړتياوو کې د پروژې پر اساس ملي کورسونه او کلستر واحدونه شامل دي
- لوړ ملي سرټيفيکېټ (HNC) او لوړ ملي ډيپلوم (HND)
- درجې.

تاسو کولای شئ د چمتو کېدونکو وړتياوو په اړه نور معلومات د سکاټلنډ د وړتياوو اداره ته په مراجعې او د پاڼې په پورته برخه کې پر 'Qualifications' په کلیک کولو سره ترلاسه کړئ. همدارنګه د کار زده کړې په اړه معلومات موجود دي، دا له معاش سره دنده ده چې په هغې کې کارکوونکی با ارزښته تجربي زده کوي او ترلاسه کوي يې. د کار زده کوونکي د کار د زده کړې تر څنګ، لږ تر لږه خپل 20% ساعتونه له کالج، پوهنتون يا د زده کړې له عرضه کوونکي سره د ټولګي پر بنسټ زده کړه کې مصرفوي چې په پايله کې يې په ملي کچه وړتيا ترلاسه کوي.

پر شرايطو برابر **بشپړ وخت** زده کوونکي چې په سکاټلنډ کې اوسېږي ـ د EU د اوسيدونکو زده کوونکو په ګډون ـ د داخلي هېڅ فيس نه تاديه کوي. ځينو د نيمه وخت زده کوونکو ته کېدای شي د هغوی فيسونه معاف شي. که چېرته زده کوونکي په HNC کچه يا تر دې لوړې کچې کې کورسونه اخلي، هغوی بايد د سکاټلنډ لپاره د زده کوونکو د انعام ابجنسي **(SAAS)** ته درخواست وکړي تر څو په تمويل کې ورسره مرسته وشي.

تاسو په سکاټلنډ کې د زده کوونکي کېدو په اړه نور معلومات دلته د زده کوونکي د معلوماتو په پورټل کې ترلاسه کولای شئ: په سکاټلنډ کې د زده کوونکو معلومات ـ تمويل، مالي چارې او د زده کوونکو ژوند

په نوره برېتانيا کې د درجې د نمرو ترلاسه کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره په مهرباني سره لاندې لينک ته مراجعه وکړئ: نړيواله درجه او د مهارت مساوات | GRB

*ټولنيزه زده کړه او وده (CLD) او د لويانو زده کړه*

ټولنيزه زده کړه او وده خلکو ته دا وړتيا ورکوي تر څو په خپلو ژوندونو او ټولنو کې مثبت بدلونونه راوړي. په سکاټلنډ کې د CLD تمرکز پر لاندې موارد دی؛

- د هر عمر لرونکو خلکو لپاره د ښه شوي ژوند چانسونه، د زده کړې، شخصي ودې او فعال تابعيت په وسيله
- پياوړې، ډېرې انعطاف منونکې، مرستندويه، اغېزناکې او جامع ټولنې

CLD له نابرابرۍ سره په مبارزه او د عدالت په تامین کې مرسته کوي په دې کې د ځوانانو کار، د ټولنې پر بنسټ د لویانو زده کړه، په شمول د سواد زده کړه او انګلیسي د نورو ژبو د ویونکو لپاره ((ESOL، او د ټولنې پراختیا شامله ده.

د CLD متخصصین د هغو خلکو سره کار کوي څوک چې حاشیه شوي، د اخراج په خطر کې دي، زیانمنونکي او خارج شوي. دوی ځوانانو، لویانو او کورنیو ته د زده کوونکو بدیلې اړیکې چمتو کوي تر څو خلک وکولای شي په زده کړه، دنده یا د هغوی په ټولنه کې غیرقضاوتي ملاتړ ته لاسرسی ومومي.

د ESOL زده کړه هغه خلک چې لومړۍ ژبه یې انګلیسي نه وي د ارتباطي مهارتونو سره سمبالوي چې په اقتصادي، کلتوري او ټولنیزه توګه د مرستې او ادغام لپاره اړین دي. د ESOL زده کړه کولی شي د بدلونونو په لړۍ کولو کې مرسته وکړي، روغتیا او هوساینې ته وده ورکړي، انزوا کمه کړي او د کار وړتیا زیاته کړي. په ټولنه کې د ESOL زده کول یو آرام ځای چمتو کوي چیرې چې زده کونکي کولی شي انګلیسي زده کړي، په ټولنه کې د تړاو ښه احساس او د انزوا کم احساس ولري.

زده کړه د زده کوونکو او د دوی اړتیاوو لخوا پر مخ وړل کیږي او ډیری وختونه د ژبې اړین مهارتونه چمتو کوي چې له خلکو سره په نوي هیواد کې ژر تر ژره د نوي ژوند رامینځته کولو کې مرسته کوي.

د ټولنې پر اساس ESOL له بېلا بېلو لارو لېږدول کیږي؛

- د ځایي ادارو له لورې،
- د دریم ګڼې سکټور بنسټونه
- کالجونه
- د ټولنې په رهبرۍ بنسټونه

که چیرته تاسو غواړئ ستاسو په ټولنه کې د ټولنې د زده کړې او ودې په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ، نو له خپلې ځایي ادارې سره اړیکه ټینګه کړئ. د CLD په اړه نور معلومات هم په لاندې لینک کې ترلاسه کولای شئ. [د ټولنې د زده کړې وده]

کېدای شي تاسو وکولای شئ په خپله ټولنه کې د ESOL یوه وړتیا ترلاسه کړئ. د سکاټلنډ د صلاحیتونو اداره ( SQA) یو لړ جامع ESOL صلاحیتونه وړاندې کوي تر څو د ESOL د زده کوونکو اړتیاوې بشپړې کړي، دغه زده کوونکي به له بشپړو پیلوونکو څخه د پوهنتون تر کچې پورې وي. د سواد زده کړې درې ESOLواحدونه په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره را منځته شوي دي چې هغوی په انګلیسي ژبه نه پوهیږي، یا په خپلو لومړنیو ژبو کې کم سواد لري یا یې هیڅ نلري. د ESOLزده کوونکي همدارنګه کولای شي په ټولو کچو کې د خپلو زده کړو لپاره اعتبار ترلاسه کړي. دا د نورو تعلیمي کورسونو یا دندې ته له لېږد سره مرسته کوي.

*په سکاټلنډ کې زده کړه*

په سکاټلنډ کې زده کړه (لېنک وګورئ: [په سکاټلنډ کې زده کړه | په سکاټلنډ کې زده کړه]) د سکاټلنډ د سکاټلنډ د حکومت یوه اداره ده. ویب پاڼه په سکاټلینډ کې د زده کړې په اړه جامع معلومات وړاندې کوي، د والدینو لپاره د سرچینو سره یوځای د خپلو ماشومانو او ځوانانو ملاتړ کوي، نورو ادارو ته لاسلیک کوي چې کولی شي د مختلفو اړتیاوو سره د ماشومانو او ځوانانو لپاره مرسته چمتو کړي، او د رواني روغتیا او هوساینې ملاتړ لپاره د زده کړې سرچینې.

## 5. روغتیاپالنه

په سکاټلنډ کې روغتیاپالنهد سکاټلنډ د عامې روغتیا د ملي خدمت (NHS) له لورې په وړیا ډول وړاندې کېږي. د سکاټلنډ هر اوسیدونکی حق لري چې روغتیاپالنې ته لاسرسی ولري. په دې کې بې ځایه شوي خلک، کډوال، پناه غوښتونکي او هغه خلک شاملیږي چې د پناه غوښتنې درخواست یې رد شوی وي. تاسو د یوه نوي سکاټلنډي په توګه حق لرئ چې له یوه GP سره راجستر شئ تر څو بېړنیو روغتیایي خدمتونو لاسرسی ولرئ، د غاښونو او سترګو له ډاکترانو سره راجستر شئ. هغوی کولای شئ متخصصو روغتیاپالانو ته لاسرسی ولري، داسې لکه نور ټول ناروغان یې چې لري، ځینې وخت به دا کار د GPد ارجاع په وسیله ترسره کوي. په دې کې ماشوم پالنه، د رواني روغتیا خدمتونه او د ځانګړو وضعیتونو لپاره نور خدمتونه شاملیږي.

تاسو کولای ئ په سکاټلنډ کې د NHSپه اړه نور معلومات په لاندې لینک کې ترلاسه کړئ: د سکاټلنډ روغتیا پر ویب سایټ.

د NHS د معلوماتو ویب سایټ هم د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره روغتیاپالنې ته د لاسرسي په اړه معلومات لري چې ژباړل شوي معلوماتي پاڼې هم پکې موجودې دي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره روغتیايي پاملرنه - روغتیايي حقونه | NHS معلومات

*په بېړني وضعیت کې*

NHS د سکاټلنډ 24 ساعته ټلیفوني خدمت دی چې په ورځ کې 24 ساعته ډول روغتیايي سلا مشورې ورکوي. هغه خلک چې د ناروغۍ احساس کوي یا هغه خلک چې پر ناروغانو پام کوي، له ټلیفوني خدمت سره کولای شي چې روغتیايي سلا مشورې ترلاسه کړي، که چېرته تر هغې چې بله معاینه خونه خلاصېږي، تاسو له خپل GP سره د اړیکې نیولو لپاره صبر نشئ. کولای. که چېرته تاسو ناروغ یاست یا روغتیايي خدمتونو ته اړتیا لرئ، نو له 111 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ. د دې پر ځای تاسو کولای شئ په لاندې لینک کې د هغوی ویب سایټ ته لاسرسی ومومئ: **NHS24**.

تلیفوني مشورتي کرښه د امبولانس د بېړني خدمت لپاره د بدیل په توګه په نظر کې نیول شوې ده. تاسو باید د ژوند ګواښونکو بېړنیو حالاتو په صورت کې تل له 999 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

تاسو کولای شئ په لاندې لینک کې د روغتیا اړوندو موضوعاتو په اړه معلومات ترلاسه کړئ، لکه د غاښونو پاملرنه، سګرټ څکول، الکول، خواړه او تغذیه او رواني روغتیا: **NHS** د معلوماتو ویب سایټ.

*له GP سره راجستر کول*

کله چې تاسو په سکاټلنډ کې مېشت شوې او اړتیا ده چې کورنۍ مو له ځایي ډاکټر سره راجستر شي ــ یو عمومي معالج (GP). د دې لپاره چې له یوه عمومي ډاکټر (GP معاینه خونه) سره راجستر شئ، نو تاسو باید د نوم لیکنې یو فورم ډک کړئ چې د ډاکټر په معاینه خونه کې د لاسرسي وړ دی یا یې له دې ځای څخه ډاونلوډ کړئ. له 16 کلنۍ څخه ښکته ماشومان باید د خپلو والدینو یا سرپرست له لوري راجستر شي، مګر نباید له هغه GP سره راجستر شي چې د کورنۍ نور غړي ورسره راجستر دي.

بشپړ شوی فورم باید معاینه خونې ته واستول شي او له تاسو څخه ښايي وروسته د ID سند وغوښتل شي، لکه پاسپورټ، یا د پتې سند. کله چې ستاسو نوملیکنه د GP معاینه خونې ته ورسېږي، نو تاسو ته به یا د ټلیفون یا ایمېل له لارې خبر درکړي چې ستاسو نوم لیکنه په بریالیتوب سره ترسره شوه.

تاسو هرکله کولای شئ پرته له دې چې کوم دلیل وړاندې کړئ، خپل GP ته بدلون ورکړئ، دا کار به تاسو د یوه نوي GP په معاینه خونه کې د نوم لیکنې د یوه فورم په بشپړولو سره ترسره کوئ. کله چې تاسو خپل ځان له نوي GP سره راجستر کړ، نو تاسو به له هغې څخه وروسته له پخواني هغه سره راجستر نه یاست. نو تاسو له هغې وروسته کولای شئ له نوي GP سره د بېړنۍ لیدنې لپاره وخت وټاکئ.

که چېرته تاسو ناروغ شئ، نو ستاسو GP به پر تاسو پام وکړي او درملنه به مو وکړای شي. ستاسو GP چې تاسو ته هر څه تجویز کوي، هغه وړیا دي. نور معلومات په لاندې لینک کې ترلاسه کولای شئ: د **GP** له معاینه خونې سره د ځان راجستر کول.

*د غاښونو له ډاکټر سره د ځان راجستر کول*

تاسو او ستاسو کورنۍ کولای شئ د خپلې خولې، غاښونو او وورېو د سالمو ساتلو لپاره له NHS سکاټلنډ څخه پاملرنه، لارښوونه او درملنه ترلاسه کړئ. سکاټلنډ همدارنګه وړیا د غاښونو معاینات وړاندې کوي. تاسو کولای شئ د لاندې لینک په وسیله تاسو ته نږدې د غاښونو ډاکټر معلوم کړئ: په سکاټلنډ کې د **NHS** د غاښونو درملنې ترلاسه کول

*د NHS د غاښونو پاملرنه*

سکاټلنډ په برېتانيا کې يواځنی هېواد دی چې د NHS له لوري تمويلېدونکي د سترګو نړيوال معاينات وړاندې کوي. دا په معمول ډول د برېتانيا د اوسېدونکو او بهرنيو ليدونکو لپاره د لاسرسي وړ دي. په ځينو مواردو کې ښايي NHS يو اوپټيک ووچر د عينکو يا اړيکو د لينزونو د لګښت لپاره ورکړي. په سکاټلنډ کې ستاسو د سترګو د معايناتو **NHS** ورېا لارښود.

*له ټولنو سره وصلېدل*

د سکاټلنډ د روغتيايي او ټولنيزې پاملرنې ټولنه ((**The ALLIANCE**)) د درېيم ګني سکټور بنسټ دی چې له خلکو سره مرسته کوي تر څو له سيمه ييزو مرستندويه سرچينو سره وصل شي کوم چې هغوی ته دا وړتيا ورکوي تر څو خپل روغتيايي وضعيت په ډېره اغېزناکه توګه په خپله مديريت کړي. لاندې لېنک وګورئ: ستاسو له ټولنو سره ستاسو وصلول.

*رواني روغتيا*

NHS سکاټلنډ د رواني روغتيا خدمتونه وړاندې کوي چې د هغې له مخې يو لړ درملنې او له خپل ځان سره د مرستې لارښوونې هغه چا ته وړاندې کېږي چې د رواني روغتيا خفيفې، منځنۍ يا ډېرې پېچلې ستونزې تجربه کوي.

همدارنګه تاسو کولای شئ لاندې لېنک ته مراجعه وکړئ: د NES د تروما معلومات د هغو کسانو د ملاتړ لپاره چې له تروما څخه اغېزمن شوي وي.

کله چې تاسو په سکاټلنډ کې له نوي ژوند سره ځان عياروئ، نو دا طبيعي ده چې تاسو به د سترس يا انديښنې احساس کوئ. په پورته خدمتونو سربېره لاندې لېنکونو ته مراجعه وکړئ:Clear Your Head په دې اړه لارښوونه کوي چې څه ډول خپله رواني روغتيا ښه کړئ او Breathing Spaceيو وړيا، محرم مرستندويه خدمت دی چې د هغو خلکو لپاره د لاسرسي وړ دی چې له يو چا سره د خپلو احساساتو په اړه خبرې کوي.

شورا ګاني بايد د اړتيا په صورت کې خلک د عامي روغتيا د خدماتو متخصصينو ته راجع کړي، د بېلګې په توګه د رواني روغتيا خدمتونه، د لويانو ټولنيزه پاملرنه او د ماشومانو خدمتونه. نورې لارښوونې به په مناسب وخت چمتو شي.

*د لويانو ټولنيزه پاملرنه*

د لويانو ټولنيزه پاملرنه هغه مرسته ده چې هغو خلکو ته وړاندې کېږي چې کېدای شي د هغې اضافي مرستې له درجې څخه ګټه واخلي چې د روزل شويو متخصصينو له لوري په دې موخه ورکول کېږي چې له هغوی سره مرسته وکړي تر څو د امکان تر بريده په هوسا او خپلواک ډول ژوند وکړي. دا ښايي د کوم فزيکي معلوليت، يا د زده کړې د معلوليت يا د کوم بل اختلال له امله وي چې خلک له فعاله ژوند څخه منع کوي. هغه مرسته چې تاسو يې ترلاسه کولای شئ، متفاوته به وي او د درجې د ډول او هغه مرستې په ډول پورې به اړه لري چې تاسو يې غواړئ. ستاسو ځايي اداره به لومړی ستاسو د اړتياوو په اړه بحث وکړي او که چېرته تاسو د ټولنيزې پاملرنې د مرستې لپاره پر شرايطو برابر ياست، نو هغوی به له تاسو سره کار وکړي تر څو د مرستې سمه کچه ومومي.

ټولنيزه پاملرنه د دې لپاره تنظيمېږي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د وړاندې کېدونکې پاملرنې معيارونه د لوړ کيفيت لرونکي دي، ځواب ويونکي او شخص محوره دي.

تاسو کولای شئ په لاندې لېنک کې ټول اړوند معلومات ترلاسه کړئ په اړه د: د سکاټلنډ ټولنيزه پاملرنه

*جنسي ژوند/ د کورنۍ د پلان جوړونې کلينيکونه*

NHS سکاټلنډ په سکاټلنډ کې د جنسي روغتیا وړیا خدمتونه وړاندې کوي. ټول جنسیتونه کولای شي د کورنی د پلانولو مفهومي معلوماتو، اړیکو او د [جنسي روغتیا لارښوونو](https://www.nhsinform.scot/) لپاره مسلکي او غیرقضاوتي پاملرنې ته لاسرسی ولري یا تاسو کولای شئ له خپل GP سره هم لیدنه وکړئ.

*د سکاټلنډ د والدینو کلب*

د والدینو کلب د سکاټلنډ د حکومت له لوري ستاسو د ماشوم د روغتیا او تعلیم په اړه تازه لارښوونې وړاندې کوي. دا له هغو والدینو څخه له لارښوونو او نکتو ډک دی چې تر دی وړاندې هلته وو. دا همدارنګه په دې اړه هم مشورې وړاندې کوي تر څو تاسو پر خپلې هوساینې پام وکړئ او تاسو ته د لاندې لینک له لارې لارښوونه کوي چې تاسو ته د لاسرسي وړ مرستې پر لور لاړ شئ:
https://www.parentclub.scot/

*د سکاټلنډ د ماشوم بکس*

هر ماشوم چې په سکاټلنډ کې زېږېدلی وي، د ماشوم د یوه وړیا بکس (Baby Box) حق لري، چې د ماشوم د زېږون له ورځې څخه تر 6 میاشتینې پورې ټول د اړتیا لومړني مواد پکې موجود وي.

د سکاټلنډ د ماشوم د بکس په اړه نورم معلومات دلته ترلاسه کولای شئ: [د سکاټلنډ د حکومت د والدینو د کلب ویب سایټ](https://www.parentclub.scot/) یا ستاسو د روغتیایي متخصص له لوري.

*روغتیایي لیدنه*

په سکاټلنډ کې هر د ښوونځي له عمر څخه کم ماشوم د سکاټلنډ د رغتیا د لیدنې له خدمت څخه ګټه اخیستی شي. دا د ځانګړي روزل شوي نرس له لوري ستاسو د کور د لیدنو یوه لړۍ ده چې د روغتیایي ویزېټور په نامه هم یادېږي. دغه روغتیایي لیدنې له زېږون څخه مخکې دوری څخه پیلېږي او هغه وخت پای ته رسېږي چې ماشوم ښوونځي ته تلل پیل کړي. که څه هم، هغه کسان چې په سکاټلنډ کې اوسېږي او د ښوونځي له عمر څخه کم ماشومان لري، په یوه مناسب وخت کې به لیدنې ورسره وشي.

روغتیایي ویزېټور به ستاسو د ماشوم پر روغتیا او هوساینې نظارت کوي او وده به ورکوي، همدارنګه والدینو او لویو کورنیو ته به خدمت او مرسته چمتو کوي.

*د ښځو روغتیا*

موږ په سکاټلنډ کې هڅه کوو چې د عامه پوهاوي د کچې په لوړولو سره د ښځو د روغتیا نابرابرۍ هواري کړو، تر څو د ښځو د ژوند په موده کې د هغوی ورغتیایي پاملرنې ته لاسرسی ښه کړو او د نجونو او ښځو په روغتیایي پایلو کې نابرابرۍ را کمې کړو.

د ښځو لپاره ځانګړي ګټور معلومات په لاندې لینکونو کې د لاسرسي وړ دي – [د سکاټلنډ جنسي روغتیا](https://www.sexualhealthscotland.co.uk/)، له نورو جزئیاتو سره مشخصو روغتیایي موضوعاتو ته تر [د مرستې ترلاسه کول](https://www.sexualhealthscotland.co.uk/) ټب له لارې پوښښ ورکوي، همدارنګه [د جنسي روغتیا لارښود](https://www.sexualhealthscotland.co.uk/) په جزئیاتو سره خدمتونه او سلا مشورې وړاندې کوي چې ستاسو په ساحه کې د لاسرسي وړ دي.

*د قاعدګۍ جریان د قاعدګۍ محصولات*

په سکاټلنډ کې په دې کې ستونزه نشته چې د خپلې قاعدګۍ په اړه خبرې وکړئ او دا مهمه ده چې په دې اړه د شرم او خجالت احساس ونکړئ.

سکاټلنډ په نړۍ کې لومړنی هېواد دی چې د قاعدګۍ محصولاتو ته وړیا او نړیوال لاسرسی چمتو کوي؛ لکه صحي پیډه، ټامپونونه او د بیا ځلي کارولو وړ د قاعدګۍ محصولات.

ځايي اداري او د زده کړو عرضه کوونکي بايد د قاعدکي محصولات د هر هغه چا لپاره د لاسرسي وړ وګرځوي چې اړتيا ورته لري. دا په دې معنا ده چې ټول ښوونځي، کالجونه او پوهنتونونه بايد دغه توکي په خپلو تشنابونو کې په وړيا ډول د لاسرسي وړ وګرځوي.

*د رحم د خولې معاينه: د سمير معاينې*

د رحم د خولې معاينې چې د 'سمير ټست' په نامه هم يادېږي له 25 څخه تر 64 کلنۍ پورې ښځو ته دا فرصت برابروي چې په هرو 3 تر 5 کلونو کې معاينه شي. که چېرته تاسو له GP سره راجستر ياست، کله چې ستاسو د رحم د خولې د معاينې وخت را ورسېږي، نو تاسو ته به يو ليک در واستول شي.

د رحم د خولې په معاينه يا سمير ټست کې د رحم د خولې (د رحم غاړې ته نږدې) يو نرم برس کول شامل دي چې په دې توګه د رحم له خولې څخه يوه بېلګه را اخلي. معاينه ستاسو د ښځينه GP يا نرسې له لورې ترسره کېږي. معاينه کولای شي د رحم په خوله کې ډېر کوچني بدلونونه تشخيص کړي چې که چېرته درملنه يې ونشي نو کېدای شي چې سرطاني شي.

*د سينې معاينه*

له 50 څخه تر 71 کلنۍ پورې ښځې کېدای شي چې په هرو 3 کلونو کې يو ځل د سينې معاينه ترسره کړي. دغه معاينه مرسته کوي تر څو هر ډول ستونزه تشخيص کړي او د دې شونتيا را منځته کوي چې ژر اقدام ترسره شي. دا کار د سينې د سرطان له امله د ښځو د مړينې کچه را کموي. په دې معاينه کې ايکسرې شامله ده چې د هغو سرطانونو د تشخيص لپاره ترسره کېږي چې ډېر کوچني دي نه ليدل کېږي او نه احساسېږي.

سکاټلنډ: https://www.nhsinform.scot/healthy-living/screening/breast/breast-screening

*مينوپاز*

مېنوپاز هغه مهال را منځته کېږي چې کله يوه مېرمن نور مياشتنۍ عادت نلري او نشي کولای چې په طبيعي ډول حمل واخلي. دا معمولاً د 45 او 55 کلنۍ تر منځ را منځته کېږي او ځينې وخت کېدای شي چې تر دې مخکې را منځته شي.

په دې وخت کې به ستاسو مياشتنۍ عادت په تکراري بڼه کم شي او په څو مياشتو کې به يو ځل هم وينه بهېدنه ونلرئ. که چېرته تاسو دا مهال وينه بهېدنه ولرئ، نو لا به هم مېنداوره شئ.

مېنوپاز کولای شي چې ځينې نښې نښانې رامنځته کړي لکه نامنظم مياشتنۍ عادت، ښونه، د شپې پر مهال خولې کېدل، د مزاج بدلون، ناوړه خوب، د مغز غبار، د جنسي ميل کمښت، د واڼن وچېدل او د مفصلونو دردونه.

که چېرته تاسو د مېنوپاز ستونزې تجربه کوئ، نو کولای شئ له خپل GPيا نرس سره خبرې وکړئ.

تاسو کولای شئ د نورو معلوماتو لپاره لاندې لېنک ته: www.nhsinform.scot/menopause مراجعه وکړئ.

*د جنسي مقاربت په پايله کې را منځته کېدونکي عفونتونه (STIs) او د مثل د توليد روغتيا*

د جنسي مقاربت عفونتونه (STIs) له يوه شخص څخه بل شخص ته د ناخوندي شوي جنسي اړيکې يا د تناسلي آلې د اړيکې په پايله کې لېږدول کېږي. دا ناروغۍ کېدای شي چې بېلا بېلې نښانې ولري خو له نښو پرته هم را کېدای شي.

نښې نښانې يې عبارت دي له؛ له واڼن يا مقعد څخه د غيرمعمول تشرح؛ د متيازو پر مهال د درد احساس؛ د واڼن غيرمعمولي وينه بهېدنه؛ د تناسلي اندام يا مقعد په څنګ کې د غوټو شته والی؛ د تناسلي الي يا مقعد په څنګ کې د خارښت موجوديت.

که چېرته تاسو انديښمن ياست چې کېدای شي مقاربتي ناروغي ولرئ، نو د خولې د جنسي اړيکې په ګډون هېڅ جنسي اړيکه مه ټينګوئ او هر څومره ژر چې کولای شئ د جنسي روغتيا له خدمت سره اړيکه ټينګه کړئ.

د جنسي روغتیا خدمتونه په سکاټلنډ کې وړیا دي او د هر چا لپاره د لاسرسي وړ دي. تاسو کولای شئ خپل نږدې کلینیک دلته ومومئ:https://www.nhsinform.scot/scotlands-service-directory/sexual-health-clinics

*له مېندوارۍ څخه مخنیوی*

له مېندواره کېدو څخه د مخنیوي لاره په سکاټلند کې وړیا ده. له مېندوارۍ څخه د مخنیوي دلارو بېلګې په لاندې ډول دي:

- کانډومونه
- له مېندوارۍ څخه د مخنیوي ګولۍ
- اوږدمهاله د بېرته را ستنېدو وړ له مېندوارۍ څخه د مخنیوي لارې، د بېلګې په توګه امپلانټ یا IUD (د رحم په داخل کې آله)

تاسو کولای شئ له مېندوارۍ څخه د مخنیوي عمل ته د لاسرسي لپاره له خپل GP یا نرسي سره خبرې وکړئ. تاسو کولای شئ د مېندوارۍ د مخنیوي او بېړني مخنیوي په اړه د سلا مشورو لپاره درملتونونو ته مراجعه وکړئ.

*د جنین سقط*

د جنین سقط کول د امیندوارۍ پای دی او په سکاټلنډ کې قانوني بڼه لري. او د سکاټلنډ په NHS کې په وړیا ډول د لاسرسي وړ دی. د جنین د سقط پر مهال پاملرنه ترسره کول له هغې ډلې د اړتیا په صورت کې د ژباړن شتون د جنین د سیمه ییزو خدمتونو له لارې د لاسرسي وړ دي.

که چېرې تاسو په سکاټلنډ کې د میندواره کېدو یا نا غوښتل ش?وي ماشوم د لرلو لپاره چمتو نه یاست نو د ملاتړ ګڼ شمېر لارې چارې شته دي. کېدای شي دا وضعیت د هرې مېرمنې لپاره خورا سخت او له احساساتو ډک وي.

سکاټلنډ: https://www.nhsinform.scot/tests-and-treatments/surgical-procedures/abortion

**دنده او روزنه**

هغه خلک چې د کډوالو په توګه پېژندل شوي دي، یا د بشري خوندیتوب کومه بله بڼه ورکړل شوې ده، د بې ځایه شویو خلکو په ګډون، دا حق لري چې په برېتانیاکې کار وکړي.

هغه پناه غوښتونکي چې د پناه غوښتنې درخواست یې تر پروسس لاندې وي، په اتومات ډول د کار کولو حق نلري. که چېرته د یوه متقاضي په اړه له دولس میاشتو وروسته تصمیم ونه نیول شي، نو متقاضي کولای شي د کورنیو چارو وزارت ته د کار کولو د اجازې درخواست وکړي. که چېرته د کار اجازه ورکول کیږي، نو هغه دنده چې اخیستل کیږي باید د برېتانیا د ویزې او کډوالۍ له لوري په کمبود دندو کې اعلان شي. ځینو پناه غوښتونکو ته ښایي د استوګنې اختیاري وضعیت ورکړل شي چې له دې سره هغوی ته د کار اجازه هم ورکول کیږي.

د سکاټلنډ حکومت او ځایي حکومت د هغو خلکو د ملاتړ لپاره اوږدمهاله تمرکز لري چې د کار مارکېټ ته د لاسرسي په برخه کې مرستې ته اړتیا لري. استخدام یو کلیدي لومړیتوب دی چې د نورو خدمتونو رول هم څرګندوي لکه تعلیمي، ټولنیزه زده کړه او پرمختګ، ټولنیزه پاملرنه، د پلان جوړونې او اقتصادي ودې فکتورونه.

*د هوساینې امتیازات*

کډوال، بې ځایه شوي خلک او هغه کسان چې بشري خوندیتوب ورکړل شوی دي، حق لري چې د هوساینې امتیازاتو ته لاسرسی ولري. له هغو خلکو سره مرسته چې په دندې پسې ګرځي، د کار مرسته او امتیازاتو ته د لاسرسي له پلوه د برېتانیا له حکومت سره محفوظ دی. په دې کې رفاهي امتیازات هم شامل دي لکه نړیوال کرېډټ. په داسې حال کې چې ځینې د ټولنیز خوندیتوب واکونه د سکاټلنډ حکومت ته ورکړل شوي دي، د استخدام اړوند او د عاید د بدلون امتیازات د برېتانیاله حکومت سره محقوظ دي.

پناه غوښتونکي عامه تمویل ته ارجاعات (NRPF) نلري او له همدې امله د عامه تمویل مشخصو مرستو ته لاسرسی نلري، کومې چې د کډوالۍ تر اوصولو لاندې تعریف شوې دي. په دې کې ډېری د هوساینې امتیازات، د ځایي ادارې د استوګنځي او د سکاټلنډ د رفاه مالي تمویل شامل دي. هغه خلک چې د پناه غوښتنې په لټه کېږي، کولای شي د کورنیو چارو له وزارت څخه د مالي تمویل او استوګنځي د مرستې غوښتنه وکړي، که چېرې د خپل درخواست د انتظار پر مهال دوی بېوزله وي. پناه غوښتنه، د پناه غوښتنې د مرستې د ورکړې په ګډون او کډوالي د NRPFد پالیسۍ په ګډون هغه موضوعات دې چې د برېتانیا په پارلمان پورې تړاو لري.

*د کار پیدا کول*

په سکاټلنډ کې د کار پیدا کولو لپاره یو لړ لارې چارې شته چې د ملاتړ د ځینو خدمتونو لېست په لاندې ډول دی چې د دندې په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. تاسو باید د خپل Job Centre Plus د کار له مربي څخه د دغو خدمتونو په اړه پوښتنه وکړئ.

- د ځایي ادارې ملاتړ ـ هغه خدمتونه چې د سیمه ییزو ادارو او د هغوی د شریکانو له لوري وړاندې کیږي له خلکو سره مرسته کوي چې په اسانۍ سره خدمتونه تعقیب کړي، په سم وخت کې سمه مرسته چمتو کوي او کله چې تاسو مخ په کار وړاندې ځئ، ستاسو پر اړتیاوو غور کوي. **دا مرسته د هغو خلکو لپاره هم د لاسرسي وړ ده چې د خپلې پناه غوښتنې د درخواست پایلو ته په تمه دي.**
- د سکاټلنډ عادلانه پیل ـ دا له استخدام څخه مخکې 12-18 میاشتې متناسبه، انعطاف منونکې، او شخص محوره ملاتړ وړاندې کوي تر څو د عادلانه او پایداره کار په موندلو او ساتلو کې مرسته وکړي

هغه بنسټونه چې دا خدمتونه وړاندې کوي، تمه ترې کیږي چې له افرادو څخه ملاتړ وکړي تر څو هغوی اضافي خدمتونو ته لاسرسی ومومي چې ښایي د کار په موندلو کې ورته اړتیا ولري، په دې کې د ژبې ملاتړ، د رواني روغتیا ملاتړ، د مهارتي خدمتونو لپاره تابلو ګانې او نورې لوړې زده کړې شاملې دي. دغه خدمتونه به د اړتیا په صورت کې د ماشوم پالنې خدمت ته له لاسرسي سره هم مرسته وکړي.

*د شغل معلومات او لارښووني*

د سکاټلنډ د مهارتونو وده (Skills Development Scotland) د سکاټلنډ د مهارتونو ملي بنسټ دی او د شغل په اړه معلومات، سلا مشوري او لارښووني وړاندي کوي، همدارنګه د کار پر بنسټ د روزني پروګرامونه وړاندي کوي چي موخه يې د دندي د مديريت مهارتونه دي. هغوی له پراخو لارو څخه د کار په برخه کي ملاتړ وړاندي کوي، لکه عصري کار زده کړه (نور معلومات دلته د لاسرسي وړ دي). د هري سيمه ييزي اداري په ساحه کي د شغل مرکزونه دي چي تاسو کولای شئ هلته مرستي ته لاسرسي ومومئ، د په دې اړه نورو معلوماتولپاره دلته کلېک وکړئ.

همدارنګه يو انلاين خدمت هم شته چي د لاندي لېنک له لاري د لاسرسي وړ دی: زما د کار نړی (**My World of Work**) ، چي ستاسو د کاري ژوند په هر پړاو کي درسره مرسته کولای شي. هر څوک کولای شي د دندي پراخو معلوماتو ته په بېلا بېلو موضوعاتو کي لاسرسي ولري، لکه د شغل انتخاب، زده کړه او روزنه، دندو ته نوم ليکنه او د شغل بدلون. تاسو کولای شئ د دندو له پلټلو څخه تر CV جوړولو پوري معلومات دلته ترلاسه کړئ.

هغوي همدارنګه د شغل معلومات، سلا مشوري او لارښووني (CIAG) خدمتونه وړاندي کوي. دغه خدمت خلکو ته دا وړتيا ورکوي چي په کافي اندازه د کار د بازار لپاره چمتو شي، ور داخل شي او پرمختګ پکي وکړي، همدارنګه د هغوی پوتنسيال په کارځای کي برابر کړي.

*ستاسو په سيمه ييزه ساحه کي کار کول*

تاسو کولای شئ په خپله سيمه ييزه شورا کي د کار لپاره د بېلا بېلو دندو فرصتونو او خدمتونو ته نوم ليکنه وکړئ. ستاسو په ساحه کي د دندو پلټلو او هغوی ته د نوم ليکني لپاره لاندې لېنکونو ته مراجعه وکړئ:

- myjobscotland
- S1jobs
- ScotCareers
- Scot Jobs Net
- Jobs North
- Indeed

Jobcentre Plus له خلکو سره د کار په موندلو او په هغې کي په وده کي مرسته کوي، د هغو خلکو په ګډون چي بې دندي وي او د امتيازاتو غوښتنه کوي. د دندي په موندلو او د هر ډول امتيازاتو په اړه د معلوماتو لپاره چي ښايي تاسو او ستاسو کورنۍ يې مستحق ياست، خپل Jobcentre Plus ته مراجعه وکړئ، يا په لاندي لېنک کي له وېب سايټ څخه ليدنه وکړئ: موجوده امتيازات، تاديات يا غوښتنه مديريت کړئ.

تاسو کولای شئ د ملاتړ د خدمتونو اړوند نور معلومات په لاندي لېنک کي ترلاسه کړئ: کار کول، دندې او شغلونه.

*عصري کار زده کړې (MAs)*

هغه خلک چي د کډوالی يا بشري خونديتوب وضعيت لري، کولای شي په عصري کار زده کړو کي ونده واخلي.

**Modern apprenticeships in Scotland** کولای شي تاسو ته داسي فرصتونه چمتو کړي چي د دندي په اړه زده کړه وکړئ، خپل د اړتيا وړ تجربه ترلاسه کړئ او د مهارت د کسب لپاره کار وکړئ.

*د فارغانو کار زده کړې (GAs)*

د فارغانو کار زده کړې تر ماسټرۍ پوري د نورو موجودو کارکوونکو لپاره د کار پر بنسټ د زده کړې فرصتونه برابروي. دا له صنعت او د نورو او لوړو زده کړو له سکټور سره په همکارۍ جوړې شوې دي. د کار زده کړې اکاډميکه پوهه د ودې له مهارتونو سره يو ځای کوي تر څو ګډونوال په کار ځای کي ډېر اغېزناک او ګټور شي.

*رضاکاري*

بې ځایه شوي کسان، کډوال او پناه غوښتونکي حق لري چې رضاکارانه کار وکړي. رضاکارانه کار کولای شي ځینې هغه امتیازات وړاندې کړي چې کار یې وړاندې کوي لکه: د مهارتونو کارول او هغوی ته وده ورکول؛ د موخې حس؛ او په ټولنه کې له نورو خلکو سره اړیکې ټینګول. رضاکارانه کار کولای شي د تجربې په ترلاسه کولو سره د دندې د موندلو چانس لوړ کړي چې کولای شي له تاسو سره دندې ته په نوم لیکنه کې مرسته وکړي. د رضاکارانه کار په اړه که پوښتنه لرئ، د خپل دریېم ګڼي سکتور له ارتباطي شخص (TSI) سره اړیکه ټینګه کړئ. د هرې سیمه ییزې اداري په ساحه کې یو TSI موجود دی ـ تاسو کولای شئ خپل نږدې TSI دلته ومومئ: [د دریېم سکټور ارتباطي شخص: د اړیکې جزئیات - gov.scot (www.gov.scot)]

*ستاسو د ملي بیمې شمېره*

تاسو د ملي بیمې یوه شمېره لرئ تر څو ډاډ ترلاسه شي چې ستاسو د ملي بیمې ونډې او مالیات یوازې ستاسو په نوم ثبتیږي. دا له نورو او شمېرو څخه جوړ شوی دی او بدلون پکې نه راځي.

که چېرته تاسو ثبوتولای شئ چې په برېتانیا کې د کار کولو اجازه لرئ، نو کولای شئ چې د ملي بیمې له شمېرې څخه پرته کار وپلټئ او پیل یې کړئ. تاسو همدارنګه لاندې لېنک ته مراجعه کولای شئ: https://www.gov.uk/prove-rightto-work دا تاسو ته د دې فرصت ورکوي تر څو ګومارونکي ته اجازه ورکړي چې ستاسو معلوماتو ته لاسرسی ومومي تر څو ثابته کړئ چې تاسو په برېتانیا کې د کار کولو اجازه لرئ.

ګومارونکي باید د کار د حق په اړه د ټولو اړوندو کارکوونکو لپاره کتنې ترسره کړي. د ملي بیمې د شمېرې لرل د دې کتنو برخه نه ده او د ملي بیمې د شمېرې لرل دا نه ثابتوي چې ګویا شخص د کار کولو حق لري.

که چېرته تاسو د ملي بیمې شمېره نلرئ، نو د هغې د ترلاسه کولو د څرنګوالي په اړه نور معلومات دلته ترلاسه کولای شئ: https://www.gov.uk/apply-national-insurance-number

د ملي بیمې د شمېرې لپاره د درخواست د یوې برخې په توګه به له تاسو څخه وغوښتل شي چې په حضوري بڼه لیدنه ولرئ تر څو د کار او تقاعد ډیپارټمنټ ستاسو هویت او د کار حق و ارزوي او تایید یې کړي.

*د مهارتونو پېژندنه*

هغه خلک چې د غیربرېتانیایي مسلکي وړتیا لرونکي وي کېدای شي چې په رسمي بڼه د هغوی د وړتیا پېژندلو ته اړتیا وي تر څو په داسې مسلک کې کار وکړي چې په برېتانیا کې تنظیمیږي. دا به اړتیا ولري چې د یوه مشخص مسلک لپاره د یو مناسب تنظیموونکي له لوري وپېژندل شي.

هغه مسلکي کسان چې غیربرېتانیایي مهارتونه لري باید د نورو معلوماتو لپاره له یوه مناسب برېتانیایي یا سکاټلنډي تنظیموونکي سره اړیکه ټینګه کړي. که چېرته متخصصین د مناسب تنظیموونکي په اړه ډاډه نه وي، هغوی کولای شي اړیکه ټینګه کړي له: [د برېتانیا د مسلکي مهارتونو مرکز [UKCPQ]] سره تر څو معلومه کړي چې هغوی باید له کومې اداري یا مسلکي بنسټ سره د نورو معلوماتو لپاره اړیکه ټینګه کړي چې د هغوی مسلکي مهارتونه په رسمیت وپېژندل شي.

که چېرته ستاسو مهارتونه له مخکې د برېتانیا د اړوند تنظیموونکي له لوري په رسمیت پېژندل شوي وي، ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو له تنظیموونکي سره په کتو ستاسو د پېژندنې د پرېکړې پر شرایطو پوه یاست.

UK ENIC د نړیوالو اسنادو او مهارتونو د پېژندلو او ارزونې لپاره د برېتانیا د معلوماتو ملي مرکز دی او د هغو خلکو لپاره د پرتلې د منلو وړ بیانیې خدمتونه وړاندې کوي چې د دندې، زده کړو او مسلکي نوملیکنې لپاره په برېتانیا کې د بهر په کچه اسنادو ته اړتیا لري. د UK ENIC لخوا د وړاندې شویو خدمتونو په اړه لا زیات معلومات د [ENIC په ویب] پاڼه کې موندلی شئ.

*د لومړنۍ افشا لپاره نوم لیکنه*

لومړنۍ افشا د جرمي سوابقو کتل دي چې د سکاټلنډ د افشا اداري له لوري خپرېږي، دغه اداره د سکاټلنډ د حکومت یوه اجرايي اداره ده. کله چې تاسو کومې دندې ته نوم لیکنه کوئ، نو ګمارونکي دا له تاسو څخه غواړي. تاسو یو تصدیق ترلاسه کوئ چې هغه جرمي محکومیتونه ښیي چې تاسو ترسره کړي وي، مصرف شوي نه وي او د برېتانیا په سوابقو کې ساتل کېږي.
په برېتانیا کې کېدای شي چې محکومیتونه مصرف شوي او نا مصرف شوي وي. کله چې یو محکومیت مصرف شي، نو په سکاټلنډ کې په دې اړه اصول موجود دي، چې په اړه يې معلومات دلته ترلاسه کولای شئ: https://www.gov.scot/publications/guidance-self-disclosure-previous-convictions-alternatives-prosecution-scotland-under-rehabilitation-offenders-act-1974/. که چېرته له تاسو څخه وغوښتل شي، نو تاسو باید یو نامصرف شوی محکومیت ګمارونکي ته روښانه کړئ.

تاسو کولای شئ د دغې لومړنۍ افشا تصدیق پاڼه د دې لپاره وکاروئ چې بالقوه ګمارونکو او نورو هغو کسانو ته يې وښایاست چې په دې معلوماتو باندې پوهېدو ته اړتیا لري. نور معلومات په لاندې لینک کې ترلاسه کولای شئ: لومړنۍ افشا ته نوم لیکنه. کله چې د لومړنۍ افشا درخواست کېږي، نو باید یوه اندازه فیس تادیه شي.

*د تشبث ملاتړ*

د سوداګرۍ دریڅه (Business Gateway) اداري په ټول سکاټلنډ کې هغو خلکو ته د سوداګرۍ د ملاتړ خدمتونو او بې پرې سلا مشورې وړاندې کوي چې سوداګرۍ چلوي او د بودیجې په پیدا کولو کې مرسته کوي، اصول تشریح کوي او نورو ځایي ادارو او متشبثو ادارو ته د لاسرسي تابلو ګاني ورته چمتو کوي. تاسو کولای شئ خپله ځایي سوداګریزه دریڅه دلته ومومئ: https://www.bgateway.com/local-offices یا تاسو کولای شئ له هرې دوشنبې څخه تر جمعې ورځې پورې د سهار له 9:00 بجو څخه د مازدیګر تر 5:00 بجو پورې له 0300 013 4753 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

انلاین مرسته د Find Business Support په وېب سایټ کې د لاسرسي وړ ده:
https://findbusinesssupport.gov.scot/ – کومه چې پر ټولو وړاندې کېدونکو مرستو او خدمتونو یوه ټولیزه کتنه کوي چې په ټول سکاټلنډ کې د خصوصي سکټور د ادارو له لوري وړاندې کېږي. په ملاتړ کې لاربنوونه، مالي مرسته، د شبکې جوړولو فرصتونه، روزنه، وېب نارونه او نور شامل دي.

## 6. د ټولنې خونديتوب

*د سکاټلنډ قانون*

د سکاټلنډ قانون په سکاټلنډ کې حقوقي سيستم دی، البته چې د سکاټلنډ د حقوقي سيستم عناصر د انګلستان، ويلز او شمالي ایرلند له هغو سره ورته والی لري، مګر د سکاټلنډ، انګلستان او شمالي ایرلنډ د قوانينو تر منځ توپيرونه شته دي. تاسو کولای شئ د سکاټلنډ د قانون په اړه نور معلومات د کرون اداري او د څارنوالی د مالي خدمت (د سکاټلنډ د عدلي تعقيب خدمت) په ويب سايټ کې ترلاسه کړئ: [د کرون اداره او د څارنوالي مالي خدمت](https://www.copfs.gov.uk/).

په سکاټلنډ کې جنايي قانون له نورې برېتانيا څخه کېدای شي متفاوت وي. د بېلګې په توګه، د سکاټلنډ پارلمان په 2019 کال کې تصويب کړه چې د ماشوم هر راز فزيکي ربړونه غيرقانوني ده. [د ماشومانو (له ځورونې څخه د مساوي خونديتوب) (سکاټلنډ) د 2019 کال قانون](https://www.legislation.gov.uk/asp/2019/16/enacted).

*قانوني حقونه او مسووليتونه*

د سکاټلنډ ملت عصري او ټول شموله دي چې په نړيواله کچه په رسميت پېژندل شويو د بشري حقونو ته درناوی کوي، خوندي کوي او پلي کوي يې. د سکاټلنډ حکومت او په دغه هېواد کې نورې عامه اداري مکلفي دي چې په نړيوالو ژمن ليکونو کې درج شويو د بشر حقونو ته درناوی وکړي، خوندي يې کړي او له هغوی سره سم عمل ترسره کړي. د سکاټلنډ حکومت ژمن دی چې د سکاټلنډ له ټولو ادارو سره کار وکړي تر څو ډاډ را منځته کړي چې هر څوک کولای شي له انساني وقار سره ژوند وکړي.

په سکاټلنډ کې هر څو ورته [اساسي بشري حقونه او ازادي](https://www.gov.scot/policies/human-rights/)لري، چې د قانون له مخې محفوظ دي. د بېلګې په توګه:

- هر څوک د ازادئ حق لري.
- هر څوک د خپلو افکارو د څرګندولو او د مذهب د لمانځلو ازادي لري. که څه هم دا غيرقانوني ده که د دې برخې په توګه، تاسو په هغو فعاليتونو کې برخه واخلئ کوم چې د انګلستان او سکاټلينډ په پارلمانونو کې قوانين ماتوي. دا د قانون خلاف کار دی چې د يو چا سره د دوی د عقيدې له امله تبعيض کيږي يا ځورول کيږي.

په قانون کې د خوندي شويو حقونو او آزاديو پر بنسټ، هر هغه څوک چې په انګلستان کې ژوند کوي يا ليدنه کوي تمه کيږي چې د ګډو ارزښتونو او مسؤليتونو سيټ ته غاړه کيږدي:

- د قانون درناوی وکړئ او مراعات يې کړئ
- د نورو د حقونو درناوی وکړئ، په شمول د دوی د خپلو نظرونو حق
- له نورو سره عادلانه چلند وکړئ

په انګلستان کې دا غيرقانوني ده چې د هر چا سره د دوی د عمر له امله توپير وکړي. معلوليت د جندر بيا ګمارل؛ واده او مدني ملګرتيا؛ ميندوارئ او زيږون؛ نسل مذهب او عقيده؛ جنسي تمايل. دی ته خوندي شوی ځانګړنې ويل کيږي.

کله چې د دندې لپاره غوښتنه کوئ، د ژوند کولو ځای په لټه کې یاست، د روغتيا ملي خدماتو (NHS) کارولو يا يوازې په يوه پلورنځي کې يو څه پيرودلو په وخت کې د خوندي شوي ځانګړتيا له امله بايد تاسو سره توپير ونه کړئ.

*د کرکې جرم*

د کرکې جرم هغه اصطلاح ده چې د چلند تشريح کولو لپاره کارول کيږي کوم چې دواړه جرمي او په تعصب کې ريښې لري. دا کولی شي ډيری بيلابيل ډولونه ولري - د لفظي او فزيکي ناوړه ګټه اخيستنې په شمول - او په قربانيانو، د هغوی په کورنيو او ټولنو خورا زيانمنونکي اغيزې لري.

په سکاټليند کې د کرکې جرم اوسني قوانين هر موجوده جرمي جرم (بريد، تهديد يا ناوړه چلند) ته اجازه ورکوي چې د تعصب له امله زيات شي - پدې کې د نژاد، مذهب، معلوليت، جنس، پيژندنې او جنسي تمايل پر بنسټ تعصب شامل دی.

د کرکې جرايم په سکاټلنډ کې د منلو او زغم وړ نه دي. دا يو جدي جرم دی چې يو څوک د دوی د نژاد، مذهب، معيوبيت، جنسي تمايل يا د ټرانسجنډر جنس د هويت له امله ټيپي کول، ځورول يا لفظي ناوړه ګټه پورته کوي.

که تاسو یا یو څوک چې تاسو پیژنئ د کرکې د جرم قرباني یاست نو تاسو باید پولیسو ته ووایاست

که تاسو د پولیسو سره په تماس کې د آرامۍ احساس نه کوئ، تاسو کولی شئ دا د دریمي ګنې ډلې راپور ورکولو مرکز له لارې ترسره کړئ. د دریم ګنې لوري د راپور ورکولو مرکزونه خلکو ته اجازه ورکوي چې پولیسو ته د کرکې جرم په اړه ووايي پرته له دې چې مستقیم تماس ونیسي. د دریم ګنې لوري د راپور ورکولو د مرکزونو بېلګې د هستوګنې اتحادیې د قربانیانو مالتړ دفترونو او داوطلبې ډلو پورې اړه لري، چیرې چې د دوی ځانګړي روزل شوي کارمندان به ستاسو په استازیتوب پولیس سکاټلینډ ته د راپور په سپارلو کې مرسته او مرسته وکړي.

*د مېرمنو او نجونو خوندي ساتل*

د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د بشري حقونو بنسټیز سرغړونه ده او د منلو وړ نه ده. په سکاټلینډ کې تاسو کولی شئ د لومړۍ لیکې خدماتو ته لاسرسی ومومئ کوم چې دواړه نارینه او ښځینه قربانیان او د کورني ناوړه ګټه اخیستنې، او جنسي تیري او جنسي تیري څخه ژوندي پاتې شوي ملاتړ کوي.

*کورنۍ ځورونه*

د سکاټلینډ د حکومت پیغام هغو کسانو ته چې د کورني تاوتریخوالي سره مخ دي خورا روښانه دی - تاسو یوازې نه یاست، تاسو انتظار ته اړتیا نلرئ او تاسو باید د مرستې ترلاسه کولو کې ډډه وکړئ.

پولیس سکاټلینډ او د کرون دفتر او د څارنې مالي خدمت (COPFS) کورني ناوړه ګټه اخیستنه په لاندې ډول ګوري:

"هر ډول فزیکي، لفظي، جنسي، رواني یا مالي ناوړه ګټه اخیستنه چې کیدای شي جرمي چلند وي او کوم چې د اړیکو په شرایطو کې ترسره کیږي.
اړیکه به د شریکانو (واده شوي، یوځای کیدل، مدني شراکت یا بل ډول) یا پخوانیو شریکانو تر منځ وي. ځورونه ښایي په کور یا بل ځای کې د آنلاین په شمول ترسره شي".

کورنۍ ځورونه یوازې فزیکي نشي کېدای. دا کېدای شي په بېلا بېلو لارو ترسره شي. په کورنۍ ځورونه کې لاندې موارد راځي:

- ګواښل کېدل
- نوم اخیستل
- ستاسو اعمال کنټرولول، دا چې تاسو چیرته ځئ او له چا سره خبرې کوئ
- ستاسو د ماشومانو ګواښل
- تاسو ته اجازه نه درکول چې خپله کورنۍ او ملګري وګورئ
- په درغلۍ ستاسو تورنول
- تاسو په دې ګواښل چې جنسي لیوالتیا به مو ښکاره کړي
- ستاسو له کورنۍ، ملګرو یا همکارانو سره د دوستانه انځورونو خپرول ــ یا د خپرولو ــ ګواښ
- ستاسو وهل، په لغته، په بوکس یا ستاسو په لور کوم څه ګوزارول
- جنسي تېری، جنسي اعمالو ترسره کولو ته اړ ایستل.

*د کورنۍ ځورونې په اړه څه ډول راپور ورکړو*

که چېرته تاسو یا داسې څوک چې تاسو یې پیژنئ، د کورنۍ ځورونې په خطر کې وي، نو په مهربانۍ سره د سکاټلنډ پولیسو ته خبر ورکړئ.

تاسو کولای شئ د سکاټلنډ پولیسو ته د دې لینک له لارې راپور ورکړئ: د راپور ورکولو آنلاین فورم. که چېرته ځورونه جاري وي، نو به مهربانۍ سره 101 یا په بېړني وضعیت کې 999 شمېرې ته زنګ ووهئ.

د سکاټلنډ پولیس همدارنګه کولای شي تاسو ته دا معلومات درکړي چې څه ډول خپل ځان او عزیزان خوندي وساتئ. معلومات دلته د لاسرسي وړ دي: که چېرته دا کار له ما سره وشي، نو څه باید وکړم؟ - د سکاټلنډ پولیس

په ټول سکاټلنډ کې مرسته او لاربښوونه د ښځو د سیمه ییزو ادارو له لوري وړاندې کېږي او تاسو کولای شئ د سکاټلنډ د کورنۍ ځورونې او جبري ودونو ټلیفوني لیکې ته په 0800 027 1234 شمېره زنګ ووهئ، کومه چې 7/24 خدمتونه وړاندې کوي

په سکاټلنډ کې د جنسي تېرې 17 مرکزونه موجود دي چې له تاسو سره مرسته کوي، همدارنګه د جنسي تېري ملي ټلیفوني کرښه په اونۍ کې 7 ورځې د ماښام له 6:00 بجو څخه تر نیمې شپې پورې د 08088 01 03 02 شمېرې له لاې مرسته وړاندې کوي. د جنسي تیري بحران سکاټلینډ (Rape Crisis Scotland) د ټولو جنسونو ژوندي پاتې کیدو ته ملاتړ چمتو کوي، پشمول د نارینه او ټولو ټرانس او غیر بائنری خلکو.

*جنسي تېری او جرم*

یوازینۍ کس چې د جنسي ځورونې په قضیه کې مجرم دی، هغه یې عامل دی.
د سکاټلنډ پولیس تشخیصوي چې د جنسي ځورونې په اړه راپور ورکول څومره سخت دی او هغوی له تاسو سره مرستې ته چمتو دي.

که چېرته پر تاسو جنسي تېری شوی وي یا ځورول شوي یاست:

- تاسو اړ نه یاست چې پخپله ورسره مقابله وکړئ
- ډېر مرستندویه خدمتونه شته چې له تاسو سره مرسته کوي
- د سکاټلنډ د پولیسو افسران پوهېږي چې د جنسي تېري په اړه راپور ورکول څومره ستونزمن کار دی، هغوی به تاسو ته درناوی وکړي او پر تاسو به باور وکړي
- تاسو پړ نه یاست، هغه کس چې پر تاسو یې جنسي تېری کړی دی یا یې ځورولي یاست، پړ دی.

د سکاټلنډ له پولیسو سره د 101شمېرې له لارې اړیکه نیولای شئ، یا په بېړني وضعیت کې تل د 999 شمېرې له لارې اړیکه ټینګه کړئ.

*مشوره او مرسته*

NHS د جنسي ځورونې د ځواب د همغږي کولو خدمت( SARCS د NHS) یو اختصاصي خدمت دی چې له ځورونې څخه وروسته ورځو کې روغتیاپالنه او خدمتو وړاندې کولای شي، که چېرته تاسو چمتو او ډاډه نه یاست چې پولیسو ته وواياست.

که چېرته په تېرو 7 ورځو کې پر تاسو جنسي تېری شوی وي یا ځورول شوي یاست او نه غواړئ پولیسو ته ووایاست یا ډاډه نه یاست ـ نو اوس کولای شئ خپل ځان SARCS ته راجع کړئ. دا په دې معنا ده چې تاسو GP یا د روغتیاپالني بلمتخصص ته اړتیا نلرئ چې تاسو SARCS ته راجع کړي ـ تاسو کولای شئ دا کار پخپله وکړئ.

تاسو کولای شئ SARCSته د خپل ځان د راجع کولو په اړه نور معلومات او د ټلیفون شمېره د NHS د معلوماتو پر ویب سایټ ترلاسه کړئ: www.nhsinform.scot/sarcs

د جنسي تیري بحران سکاټلینډ (Rape Crisis Scotland) د ټولو جنسونو ژوندي پاتې کیدو ته ملاتړ چمتو کوي، پشمول د نارینه او ټولو ټرانس او غیر بائنری خلکو. د جنسي تېري د بحران ملي ټلیفوني کرښه د اونۍ په 7 ورځو کې د ماښام له 6 بجو څخه تر نیمې شپې پورې په 08088 01 03 02 شمېره مرسته وړاندې کوي. پر دې سربېره په ټول سکاټلنډ کې 17 د جنسي تېري د بحران مرکزونه موجود دي چې لاربښووني او ملاتړ وړاندې کوي. تاسو کولای شئ د خپل نږدې مرکز په اړه معلومات دلته ترلاسه کړئ: سیمه ییزه مرسته ترلاسه کړئ | د سکاټلنډ د جنسي تېري بحران

*د عزت پر بنسټ تاوتریخوالی، د ښځو ختنه کول او جبري واده*

د سکاټلینډ حکومت ژمن دی چې د "عزت پر بنسټ" تاوتریخوالی سره مبارزه وکړي لکه د ښځو ختنه کول او جبري ودونه. د سکاټلنډ حکومت همدارنګه د بکارت معاینه او هیمنوپلاستي د جنسیت پر بنسټ یو ډول تاوتریخوالی ګڼي. د دې پروسیجرونو شتون په مستقیم ډول په ځینو کلتورونو یا ټولنو کې د ښځو د جنسي "پاکۍ" په اړه د سختو توقعاتو سره تړاو

لري. د عزت پر بنسټ د تاوتریخوالی مرتکبین به معمولا د نورو مختلفو ټولنیزو-فرهنګي عواملو ترڅنګ د دې باورونو په حواله کولو سره خپل چلند توجیه کوي؛ پدې کې د جنسیت ثابت رولونو ته اشاره شامله ده چې ښځې او نجونې د خپلې کورنۍ د عزت د ساتونکو په توګه پیژني. د "عزت" مفهوم یو جوړښت دی - هغه چې د ښځو او نجونو په وړاندې د نه منلو وړ جنسیتي تبعیض منعکس کوي.

که تاسو د هر عمر د یوې نجلۍ په اړه اندیښمن یاست چې ممکن د عزت پر بنسټ د ناوړه ګټه اخیستنې په خطر کې وي تاسو کولی شئ:

- له پولیسو سره اړیکه ټینګه کړئ
- له NSPCC سره په 0800 028 3550 اړیکه ونیسئ (24 ساعته مرستندویه کرښه)
- د لارښوونې او ملاتړ لپاره د سکاټلینډ کورنۍ ناوړه ګټه اخیستنې او جبري ودونو مرستې لاین ته په 0800 027 1234 (24 ساعته مرستندویه کرښه) زنګ ووهئ
- د ښوونځي یا کوم روغتیایی متخصص سره خبرې وکړئ

*د ماشوم جنسي ځورونه او استثمار*

د ماشومانو جنسي تیري یو ماشوم یا ځوان د بل بالغ، ماشوم یا ځوان د جنسي رضایت لپاره په فعالیت کې ښکیل دی. دا هیڅکله د ماشوم یا ځوان کس ګناه نه ده. د ماشوم جنسي استثمار د ماشوم د جنسي ځورونې یو ډول دی چې په هغې کې یو شخص یا د هر عمر لرونکي کس د ځور په مټ ماشوم تشویقوي، اړ باسي یې یا پرې فشار را وړي تر څو په جنسي عمل کې ورسره ښکیل شي، او په بدل کې به یې ماشوم یا هغو کسانو ته یو څه ورکول کیږي چې د دې ناوړه ګټې اخیستنې اسانتیا یې را منځته کړې ده. د ماشومانو جنسي تیری کیدای شي په حضوري یا آنلاین بڼه ترسره شي او دا یو له بل څخه یوه پیښه وي یا د اوږدې مودې لپاره پیښیږي.

ځورونه په جدي جرایمو کې راځي او داسې څه نه دي چې تاسو دې په یوازې توګه ورسره مبارزه وکړای شئ.

که چیرته تاسو پر دې باور یاست چې یو ماشوم یا ځوان په خطر کې دی، نو د سکاټلنډ له پولیسو سره په 101 شمېره اړیکه ټینګه کړئ. که چیرته تاسو فکر کوئ چې بیړنی خطر موجود دی نو 999 ته زنګ ووهئ او ژرترژره پولیسو ته خبر ورکړئ. د سکاټلینډ د پولیسو افسران به تاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو معلومه کړي چې څه پیښ شوي او ستاسو سره به کار وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو ماشوم خوندي دی. د ماشومانو د خوندیتوب متخصص افسران چې د ماشومانو د خوندیتوب ټولنیز کار سره په ګډه کار کوي ستاسو ماشوم ته به غوږ ونیسي او خبرې وکړي ترڅو معلومه کړي چې دوی ته څه پیښ شوي. د ماشومانو د ناوړه ګټه اخیستنې او استثمار ټولې پیښې به د سکاټلینډ د پولیسو لخوا وڅیړل شي.

*پولیس او د هغوی دندې*

پولیس د دې لپاره دي چې د خلکو، د هغوی له حقونو او قانون څخه ساتنه وکړي. پولیس ستاسو سره د مرستې او ملاتړ لپاره شتون لري او تاسو باید ویره ونلرئ چې دوی ته ورشئ که تاسو د جرم قرباني یاست، د جرم پیښیدل وګورئ، یا د عمومي مرستې لپاره د مثال په توګه که تاسو ورک شوي یاست.

*له پولیسو سره اړیکه نیول*

که تاسو اړتیا لرئ په بیړني حالت کې او جدي پیښو لپاره له پولیسو سره اړیکه ونیسئ چیرې چې تاسو یا بل کس د ژیان خطر سره مخ وي نو تاسو باید **999** ته زنګ ووهئ. کله مو چې اړیکه ټینګه کړه ووایئ چې د پولیسو مرستې ته اړتیا لرئ، ځکه چې د دې شمېرې له لارې د امبولانس او اور وژنې خدمت ته هم زنګ وهل کیږي.

که چیرته تاسو پولیسو ته اړتیا لرئ، مګر بیړنی حالت نه دی، نو باید له **101** شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ. دا غیر اضطراري شمیره به تاسو ته د پولیسو سره اړیکه ګړندی او اسانه کړي کله چې تاسو بیړنې ځواب ته اړتیا نلرئ، د مثال په توګه که تاسو اړتیا لرئ د خپل محلي پولیس افسر سره خبرې وکړئ یا د جرم راپور ورکړئ چې دمخه پیښ شوی وي، لکه غلا یا ملکیت ته زیان. د دې پر ځای تاسو کولای ئ د سکاټلنډ و پولیسو د د آنلاین راپور ورکولو فورمپه بشپړولو سره په انلاین بڼه هم راپور ورکړئ.

که چیرته تاسو غواړئ د خدمت د کچې په تړاو شکایت وکړئ چې تاسو ترلاسه کړئ، نو کولای شئ چې په مستقیمه توګه د سکاټلنډ پولیسو ته دلته شکایت وکړئ: د پولیسو د شکایت فورم | د سکاټلنډ پولیس یا د پولیسو ادارې ته مراجعه وکړئ. تاسو همدارنګه کولای شئ په سکاټلنډ کې د پولسو د څېړنو او بیا کتنې کمېشنر ((PIRC ته شکایت وکړئ، چې دنده یې د پولیسو له لوري د بې پرې او خپلواکې څېړنې او چلند ترسره کول دي.

*د اور لګېدنې په صورت کې*

دا چې د اور لګېدنې په صورت کې خپل ځان څه ډول خوندي کړئ، په دې اړه د بشپړ او کره لارښود لپاره د سکاټلنډ د اور وژنې او ژغورنې وېب سایټ (لاندې لېنک) ته مراجعه وکړئ.

د سکاټلنډ د اور وژنې او ژغورنې خدمت په نړۍ کې د اور وژنې او ژغورنې څلورم لوی مرکز دی او د سکاټلنډ د خلکو خوندیتوب او هوساینې ته ژمن دی. د نورو معلوماتو لپاره لاندې لېنک ته مراجعه وکړئ:

د سکاټلنډ د اور وژنې او ژغورنې خدمت (firescotland.gov.uk)

## 7. ټولنې او کلتور


سکاټلنډ یو بډایه او متنوع کلتور لري او له دې امله د نړۍ د هرې برخې د خلکو له ګډون څخه مننه کوي. سکاټلنډ کډوالو او پناه غوښتونکو ته د هرکلي یو اوږود تاریخ لري او پناه غوښتونکي د خلکو سره یوځای کیږي، خپل ژوند بیا جوړوي او د ټولنو برخه ګرځي. ځای پر ځای شوې ټولنې او افراد له نویو را رسېدلو کډوالو، بې ځایه شویو او پناه غوښتونکو سره د خپلې پوهې او تجربې په شریکولو سره مرسته کوي. د سکاټلنډ د کډوالو شورا او د ټولنې د پراختیا نور بنسټونه د کډوالو ملاتړ ته دوام ورکوي تر څو خپلې ټولنیزې ډلې او اتحادیې جوړې کړي. کډوال او پناه غوښتونکي هم د موجوده ټولنیزو بنسټونو او له پراخې ټولنې سره د مرستې لپاره ډېر څه لري.

*ایمان او باور*

سکاټلنډ یو څو باوریز هېواد دی چې بېلا بېل مذهبونه دلته پیدا کیږي، لکه اسلام، یهودیت، هندوییزم، سکهیزم، بودایيزم او بت پالنه. سکاټلنډ د تاریخي پلوه مسیحي هېواد دی او د خلکو یوه لویه برخه لا هم خپل ځانونه مسیحیان بولي. خو بیا هم، نږدې نیمايي خلک پر هېڅ دین باور نلري او نه ورسره تړاو لري.

هر څوک چې په سکاټلنډ کې اوسېږي، دا حق لري چې د خپل ځان لپاره وټاکي چې ایا غواړي خپل عقیده وپالي او کنه، پرته له دې چې تبعیض ورسره وشي. د خلکو د مذهب او ضمیر د ازادۍ حق ته باید درناوی وشي او دا د قانون له لوري محفوظ دي. د انټرفیت سکاټلنډ (Interfaith Scotland) په څېر بنسټونه https://interfaithscotland.org/ د سکاټلنډ د بېلا بېلو مذاهبو، باورونو او ټولنو تر منځ د ښو او اړیکو او تفاهم لپاره زمینه برابروي.

د سکاټلنډ د 2018 کال مذهب




*کلتور*

سکاټلنډ داسې ځای دی چې کلتور ته ارزښت ورکول کیږي، خوندي کیږي او وده ورکول کیږي. کلتور له ورځني ژوند سره اوبدل کیږي او د ټولنې له لوي جوړېږي، د نن ورځې فرهنګي میراث او خلاقیت له خلکو او ځای څخه الهام اخیستی دی، هره ټولنه ژوندۍ کوي او په ټوله نړۍ کې لمانځل کیږي. د سکاټلنډ د عنعناتو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ

سکاټلنډ د یو زیات شمېر فستیوالو کور دی چې هر کال لمانځل کیږي، د بېلګې په توګ، د ایډېنبورګ د ځنډې جشن. نور معلومات دلته ترلاسه کولای شئ.

Scottish Government
Riaghaltas na h-Alba
gov.scot

Crown copyright 2022 ©

OGL

دغه نشريې ته د خلاص حکومت د v3.0 جواز له مخې اجازه ورکړل شوې ده، مګر په هغو مواردو کې چې بل ډول بيان شوی وي.
د دې جواز د ليدلو لپاره **nationalarchives.gov.uk/doc/open-government-licence/version/3** ته مراجعه وکړئ يا د معلوماتو د پاليسی ټيم، The National Archives، Kew, London TW9 4DU ته پيغام واستوئ، يا **psi@nationalarchives.gsi.gov.uk** ته ايمېل واستوئ.

چېرته چې موږ د درېم ګڼي لوري د کاپي د حق معلومات مشخص کړي وي، په دې صورت کې به تاسو اړ ياست چې د کاپي د حق له لرونکو څخه اجازه واخلئ.

دغه نشريه په www.gov.scot کې د لاسرسي وړ ده

د دې نشريې په اړه هره پوښتنه بايد موږ ته را واستول شي

The Scottish Government
St Andrew’s House
Edinburgh
EH1 3DG

ISBN: 978-1-80435-584-8 (پوازې وېب)

د 2022 کال په جون مياشت کې د سکاټلنډ د حکومت له لوري چاپ شوی دی

د سکاټلنډ حکومت لپاره د APS Group Scotland, 21 Tennant Street, Edinburgh EH6 5NA لخوا توليد شوی
PPDAS1041270 (06/22)